# اَلضَّوَابِطُ الْمَشْهُورَةُ مِنَ الْمَهَرَةِ

اکثرهم من افادات جامع المعقول
والمنقول قاضی محمد امین صاحب مدظلہ تعالی

وبعضهم من افادات جامع المعقول
مولوی عبد القدس صاحب مدظلہ العالی
وفی آخرها ضابطة من جامع المعقول والمنقول
مولانا محمد زاهد عزیزخیل صاحب مدظلہ العالی
الجامع للضوابط طالب العلم حزب اللّٰه قندهاری عفی عنه

زیر اہتمام: میر کمال الدین حقانی


ناشر
مکتبة القرآن والسنة
محلہ جنگی قصہ خوانی بازار پشاور۔ موبائل: 0300-5866001


Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat .com

تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

| | | |
|---|---|---|
| تفاسیر | خطبات | منطق |
| احادیث | سیرت | معانی |
| فقہ | تاریخ | تصوف |
| سوانح حیات | صرف | تقابل ادیان |
| درس نظامی | نحو | تجوید |
| لغت | فلسفہ | نعت |
| فتاوی | حکمت | تراجم |
| اصلاحی | بلاغت | تبلیغ ودعوت |
| تمام فنون | | |

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com

# الضوابط المشهورة

# من

# المهرة

اکثرها من افادات جامع المعقول والمنقول

**قاضی محمد امین** صاحب مدظله العالی

وبعضها من افادات جامع المعقول

**مولوی عبدالقدوس** صاحب مدظله العالی

وفی آخرها ضابطة من جامع المعقول والمنقول

**مولانا محمد زاهد** عزیز خیل صاحب مدظله العالی

الجامع للضوابط طالب العلم حزب الله قندهاری عفی عنه

[redacted]

**ناشر**

**مکتبة القرآن والسنة**

محله جنگی قصه خوانی بازار پشاور، موبائل: 0300-5866001

Maktaba Tul Ishaat.com

# تقریظ

## جامع المعقول والمنقول

## شیخ القران والحدیث قاضی محمد امین

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام على رسوله محمد وآله وصحبه أجمعين

وبعد فإني قرأت أكثر المواضع والمواقع التي شملت بالامين المعلق

الذي جمعها أخونا المولوي حزب الله المؤلف لقد وجدها

استاذ فوجدتها بحمد الله مفيدا ونافعا وكيف لا وقد أعطي

وقت وتذكرها ثبت وكيف لا وهو موسوم بحزب الله وحزب الله

هم الغالبون وإن شاء الله أن ينتفع به المبتدئين من

أصحاب التحصيل سيما الراقم في الدنيا والآخرة آمين يا رب العالمين

قاضي محمد امين عفي عنه استاذ الحديث بجامعة امداد العلوم

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العلمين والصلوة والسلام
على سيد الانبياء والمرسلين وعلى اله واصحابه
اجمعين وبعد فاني فوضت حقوق الطبع
الرسالة المسمى بضوابط المشهورة من المهرة
لاخينا في الدين الشيخ مير كمال الدين
صاحب مكتبة القرآن والسنة الواقعة في محلة
جنگی في عقب قصه خوانی البشاور فلا يجوز
لاحد طبعها دون موافقة صاحب هذه المكتبة
انا طالب العلم حزب الله قندهاري
عفي عنه

جمله حقوق بحق ناشر محفوظ دی

د كتاب نوم: الضوابط المشهورة من المهرة
مصنف: مولانا قاضی محمد آمین صاحب
زیر اهتمام: میر کمال الدین حقانی
الناشر: مکتبة القرآن والسنة
محله جنگی پېښور فون. 0000-0000001

❁ تصحیح کننده:
مولوی محمدامرالله حقانی.
سابق استاد جامعه ابوهریره اکوړه خټک

بسم الله الرحمن الرحيم

**ضابطه نمبر ۱**: تحصيل د حاصل باطل ده ولی ځکه چه لازمیږی اجتماع د نقيضينو او اجتماع باطله ده نو تحصیل د حاصل هم باطل دئے وجه الملازمة، يعنى كه تحصيل د حاصل راشی نو اجتماع النقيضين به ولی لازمیږی ځکه چه تحصيل تقاضا د عدم حصول کوی ولی ځکه چه په زمانه د تحصیل کښی حاصل شوئ نوی او حاصل تقاضا دحصول کوی نو لازمیږی عدم حصول او حصول و ماهذ الااجتماع النقيضين وجه بطلان التالی، يعنى اجتماع ولی باطله ده ځکه چه اجتماع مستلزمه ده ارتفاع لره او ارتفاع باطله ده نو اجتماع هم باطله ده وجه الملازمة، يعنى اجتماع ولى مستلزمه ده ارتفاع لره ځکه چه تحقق د احد النقيضين مستلزم دئے ارتفاع د نقیض آخرلره مثلاً اذا تحقق الانسان ارتفع اللاانسان، و اذا تحقق فی محل اللا انسان ارتفع الانسان، فاذا تحقق فی محل الانسان واللا انسان فارتفع اللاانسان و الانسان، فالاجتماع مستلزم للارتفاع، ووجه بطلان الارتفاع، فان الشئ مع النقيض من الامورالعامة الشاملة يعنی لایکون

شئ من الاشياء فی عالم الکون الا ان یتناوله اماالعین و اما نقیضه فکیف ارتفع منه النقیضان.

**ضابطه نمبر ۲**: فرق په مابین د مطلق الشی اوشئ مطلق کښې، مطلق الشئ دی ته وائی چه متحقق کیږی په تحقق د فرد او په تحقق د جمیع افراد و سره او منتفی کیږی په انتفاء د فردا و په انتفاء د جمیع افرادو سره او جاری کیږی پری احکام د خصوص او د عموم او دا قضیی موضوع د مهملی قدمائی ده لکه انسان من حیث هی هی، ځکه چه کله موجود شو فرد دانسان نو موجود شو انسان من حیث هی هی او کله چه موجود شی جمیع افراد نو موجود شو انسان من حیث هی هی او کله چه منتفی شی فرد د انسان نو منتفی شو انسان من حیث هی هی او کله چه منتفی شی جمیع افراد د انسان نو منتفی شو انسان من حیث هی هی او جاری کیږی پر انسان من حیث هی هی حکم د خاص لکه الانسان من حیث هی هی کاتب او حکم د عام لکه الانسان من حیث هی هی کلی.

اوشئ مطلق دی ته وائی چه متحقق کیږی په تحقق د فرد او په تحقق د جمیع افرادو سره او نه منتفی کیږی په انتفاء د فرد بلکه منتفی کیږی په انتفاء د جمیع افرادو

Maktaba Tul Ishaat.com

سره او نه جاري کيږي پرې حکم دخاص بلکه جاري کيږي پرې. حکم دعام او دا موضوع د قضيئ طبعي ده لکه انسان من حيث العموم شو مثلاً کله چه موجود شي فرد دانسان نوموجود شو په ضمن ددېکښې انسان من حيث العموم او کله چه موجود شي جميع افراد د انسان نوموجود شو انسان من حيث العموم لکن کله چه منتفي شي فرد دانسان نونشي ويلئے چه منتفي شو انسان من حيث العموم مګر چه کله منتفي شي جميع افراد د انسان نوويلئ شي چه منتفي شو انسان من حيث العموم او نه جاري کيږي پر انسان من حيث العموم حکم دخاص نونشي ويلئے چه الانسان من حيث العموم کاتب ځکه داحکم د فرددئے البته ويلئ شي الانسان من حيث العموم کلي ونوع.

**ضابطه نمبر ۲**: تقابل عبارة دئے دکيدو دامرينو په داسې حيثيت چه نه جمع کيږي په محل واحده کښې د جهة واحده نه په آن واحده کښې وروسته تردې تقابل په ځلور قسمه ده تضايف، تضاد، دعدم والملکة، ايجاب، او سلب. وجه دحصر په ځلورو کښې داده چه تقابل عبارة دئے دکون د امرينونه نو دا امرين به خالي نوی يا به دواړه

وجودي وي او يا به يوعدمي او بل وجودي وي كه داوړه
وجودي وو نو يابه تعقل او تصور د احدهما موقوفه وي تر
تعقل او تصور د آخر پورې يانه كه اول وو تقابل تضايف
دئ لكه اب او ابن شو او كه نه وو موقوفه نو تضاد دئ
لكه سواد او بياض شو او كه يو عدمي او بل وجودي وو
نو يابه محل دعدمي صالح دپاره اتصاف په وجودي سره
وي يا نه كه وو دا عدم والملكه ده لكه عمى او بصر شو
او كه محل د عدمي صالح لپاره د اتصاف په وجودي سره
نه وه نو دايجاب او سلب دئ لكه انسان اولا انسان شو.

**ضابطه نمبر ٤**: كم په دوه قسمه دئ متصل او
منفصل وجه دحصر داده چه يابه په مابين د اجزاو
مفروضه ددې كم كښې يو جز په مقدار د جزء لايتجزاء چه
په انضمام سره يو جانب ته زيادة او بل كښې نقصان نه
راځي نو داسې جزء به ياوي يا به نه وي كه نه وو بلكښې
لا محالة په يو جانب كښې زيادت او په بل كښې نقصان
راتلئ نو داكم منفصل دئ لكه عدد شو ځكه چه د عدد
هره سلسله واخلى نو داسې جزء پكښې [illegible] ى اخيستـ[illegible]
خواكه هغه جفت وي او كه طاق وي بلكښې [illegible]
يو جانب كښې زيادة اوبه بل جانب كښې [illegible]

Maktaba Tul Ishaat.com

اوكه داسي جزء اخستئے شونو داكم متصل ده پس كم متصل پر دوه قسمه ده قارالذات او غير قار الذات وجه د حصر داده چه كم متصل به خالي نه وي يا به اجزاء مجتمع وي په وجود كښې يانه كه ثاني وو نوداكم متصل غير قار الذات دئے مثال لكه حركة او زمان شو اوكه اول الذكر وه نو داكم متصل قارالذات دئے. پس كم متصل قارالذات پر درې قسمه دئے خط سطحه، جسم تعليمي وجه دحصرئي داده چه كم متصل قارالذات به خالي نه وي يا به قابل د تقسيم وي په جهة واحده كښې. يعني طول يا په جهتنو كښې يعني طول او عرض ي په جهاتو ثلاثو كښې يعني طول، عرض، عمق كه اول وه نو داخط دئے كه ثاني وو نو دا سطح ده كه ثالث وو نو داجسم تعليمي.

**ضابطه نمبر ۵** : فرد پرپنځه قسمه دئے:

۱ - فردنوعي.

۲ - فرد صنفي.

۳ - فرد شخصي.

۴ - فرد حصصي.

۵ - فرد فردي.

وجه دحصرئی دادئے چه مخصص به خالی نه وی یا به قیدوی یا به تشخصات واقعیه وی یابه تقید وی که قیدوونو یابه کلی ذاتی وی یا به کلی عرضی وی که اول الذکر وو نو دا فرد نوعی دئے لکه حیوان ناطق شو په نظر سره حیوان ته او که ثانی الذکر وو نو دا فرد صنفی دئے لکه انسان رومی شو په نظر سره انسان ته اوکه مخصص تشخصات واقعیه وه نو دا فرد شخصی دئے لکه زید شو په نظر سره انسان ته اوکه مخصص تقیدوونو یا به تقید فقط وی نو دا فرد حصصی دئے لکه وجود دزید په نظر سره وجود ته په داسی حیثیت سره چه مخصص فقط تقید شی په ملاحظه کبنی اِو که مخصص تقید او قید دواړه شی په ملاحظه کبنی نو دا فرد فردی دئے لکه وجود د زید شو په نظر سره وجودته لکن دا هلته چه مخصص تقید او قید دواړه شی په ملاحظه کبنی مشهوره داده چه فرد حصصی او فرد فردی اعتباری دی لکن دا اعتباریت داسی نه دئے لکه په حیوان الجنس گنبی ځکه چه حیوان الجنس موجود دئے خالص په ذهن کبنی او په تعامل د ذهن سره او مواد جزنیه و لره په خارج کبنی نشته په خلاف دوجود د زید نه ځکه چه متحقق دئے په خارج کبنی په مواد و جزنیه وو کبنی پس شوه دا دواړه ا راد واقعیه حقیقیه

Maktaba Tul Ishaat.com

**ضابطه نمبر ٦**: یومقسم دی یو تقسیم دی یو قسم دئے یو قسیم دئے مقسم امر کلی مشترك ته وائی لکه حیوان یا کلمه شو قسم امرکلی مشترك دئے سره د انضمام دقید مخصصه نه لکه حیوان ناطق شو او قسیم امر کلی مشترك دئے سره د انضمام دقید متخصصه متقابله نه لکه حیوان حاصل شو او د تقسیم په تعریف کښی اختلاف دئے په رائی د بعضو ضم د د قیوداتو متخصصه وو امرواحد مشترك ته چه حاصلیږی په ضم دهر قید سره قسم علیحده او چاویلئے دی چه احداث د کثرة په واحد مبهم کښی پس دا اختلاف سبب د اختلاف دئے په مقسم کښی چه خوك تعریف د تقسیم په تعریف اول سره کوی نو د دوی په نزد مقسم په مرتبه د مطلق شیٔ کښی دئے ځکه چه مطلق شیٔ په مرتبه دمن حیث هو هو کښی دئے صالح دئے د انضمام د قیوداتو متخصصه وونه شی مطلق ځکه چه شی مطلق په مرتبه دمن حیث العموم کښی دئے او سره د لحاظ د عموم دا منافی دئے د انضمام د قیوداتو متخصصه وو سره او خوك چه تعریف د تقسیم په تعریف ثانی سره کوی نو ددوئی په نزد مقسم په مرتبه دشیٔ مطلق کښی دئے ځکه چه واحد مبهم یعنی ملحوظ په لحاظ د عموم شی مطلق دئے نه مطلق شیٔ ځکه چه مطلق

شئ شي من حيث هو هو دئے او داخالي دئے دلحاظ دعموم او دخصوص نه.

**ضابطه نمبر ۷:** حمد مصدر دی هرمصدر په شپږو معاینو سره راځی:

۱- مصدر معلوم.

۲- مصدر مجهول.

۳- حاصل باالمصدر المعلوم.

۴- حاصل بالامصدر المجهول.

۵- مصدر مبنی للفاعل.

۶- مصدر مبنی للمفعول.

وجه د حصرئی دادئے هرفاعل چه په یو فعل وکړی نو حاصلیږی د فاعل دپاره صفت د ایجاد او د منفعل دپاره صفت دقبول پس هرواحد به نه خالی کیږی ددری احتمالاتو څخه هرچه صفت په جانب دفاعل کښی دئے نو یابه معتبر وی اضافت دده فاعل ته باالفعل یانه که معتبرؤ اضافت دده فاعل ته باالفعل نو دا مصدر مبنی للفاعل او تعبیر تری کولئ شی په صیغه داسم فاعل سره دالحاق دیاء او تا مصدری لکه حامدیة شو او په فارسی کښی تعبیر تری کولئ شی په ستودن زید سره

Maktaba Tul Ishaat.com

او کـه اضـافت فاعـل تـه باالفعـل نـه وؤ نـو یابـه صـلوح د اضـافت فاعـل تـه وی یـا نـه کـه صـلوح د اضـافت ؤ نـو دامصدر معلوم دئے او تعبیـر تـری کولئ شـی پـه فارسـی کښـی پـه ستودن سره اوکـه صـلوح د اضـافت نـه ؤ نـو دا حاصـل باالمصـدر المعلـوم دئے او تعبیـر تـری کـولئ شـی پـه فارسی کښی پـه ستائش سره او هرچـه صـفت پـه جانـب د مفعـول کښـی دئے نـو دا صـفت بـه خـالی نـه وی یابـه معتبر وی پکښی اضافت مفعول تـه باالفعـل یانـه کـه وؤ نو دا مصدر مبنی للمفعول دئے او تعبیـر تـری کولئے شـی پـه صیغـه د اسـم مفعـول سـره. سـره دالحـاق د یـاء او اوتـاء مصـدری لکـه محمودیـة شـو او پـه فارسـی کښـی تعبیـر تـری کـولئ شـی پـه سـتوده شـدن زیـد سـره اوکـه اضـافت مفعول ته باالفعل نه وو نویابه صلوح د اضـافت وی یانـه کـه ؤ دا مصـدر مجهـول دئے او تعبیـر تـری کـولئ شـی پـه فارسی کښی پـه ستوده شدن سره او کـه صـلوح داضـافت نـه وو نـو داحاصـل باالمصـدر مجهـول دئے او تعبیـر تـری کولئ شی پـه فارسـی کښـی پـه سـتوده شـده گـی سـره یعنـی ستایلئے شوے کیدل د زید.

**ضابطه نمبر ۸:** وضع کښې دوه تقسیمه دي، اول تقسیم ثلاثي دئے:

۱- وضع شخصي.

۲- وضع نوعي في الحقائق.

۳- وضع نوعي في المجازات.

وضع شخصي دیته وائي چه تعین دلفظ خاص وشي دپاره دمعنی خاصي لکه وضع د زید دپاره د مدلول خپل، وضع نوعي في الحقائق دیته وائي چه تعین دلفظ وشي دپاره د معنی په اعتبار د قاعده کلیه سره پداسي حیثیت سره چه لفظ په دلالت کښې پردې معنی محتاج نه وي قرینې ته لکه په مشتقاتو کښې مثلاً ضارب، موضوع دئے لپاره د ذات من له الضرب یعنی ذات من قام به الفعل ځکه چه ضارب پروزن فاعل دئے او هر هغه چه پروزن د فاعل وي نو هغه موضوع وي د ذات من قام به الفعل دپاره نو ضارب موضوع دئے دپاره د ذات من قام به الضرب او ضارب په دلالت کښې پردې معنی محتاج ندئے قرینې ته وضع نوعي في المجازات دیته وائي چه تعین د لفظ وشي دپاره د معنی په اعتبار د قاعده کلیه سره پداسي حیثیت سره چه لفظ په دلالت کښې پردې

Maktaba Tul Ishaat.com

معنی محتاج وی قرینی ته لکه رایت اسداً یرمی ځکه چه اسد په دی ترکیب کښی موضوع دئے دپاره د رجل شجاع ځکه چه مقرون دئے د قرینی سره چه یرمی ده ځکه چه قاعده داده چه هر هغه لفظ چه مقرون شی د یو قرینی سره چه هغه صارفه وی دپاره ددی لفظ د معنی موضوع له ځخه نو په دی وقت کښی دا لفظ متعین دئے دپاره دداسی معنی چه مناسبه وی دموضوع له سره او معنی مناسبه دموضوع له سره چه حیوان مفترس دئے هغه رجل شجاع دئے نو اسد په دی ترکیب کښی موضوع دے دپاره د رجل شجاع لکن اسد چه دلالت پردی معنی کوی په اعتبار د قرینی د یرمی سره دوهم تقسیم رباعی ده هغه دادئے وضع خاصه موضوع له خاص وضع عامه، موضوع له خاص، وضع عام: موضوع له عام، وضع خاصه: موضوع له عام وضع خاصه عبارت دئے دعدم مرآءتیت دامر کلی ځخه او وضع عامه عبارت ده مرآءتیت د امر کلی ځخه موضوع له خاص عبارت دئے کون دموضوع له ځخه معین او مشخص او موضوع له عام عبارت دئے د کون د موضوع له ځخه امر کلی نه مثال د اول لکه وضع د زید دپاره دمدلول خپل وضع خاصة ده ځکه چه مرآءتیت کښی نشته او موضوع له خاص دئے ځکه چه معین

مشخص دئے او مثال دثانی لکه وضع د اسماء اشاراتو شوه پررائی د متاخر ځکه چه واضع اول متصور کړیدئے مفهوم د هذا یعنی موضوع له چه مفرد مذکر مشار الیه باشارة حسیه و روسته ئی د امرءآت کړیدئے دپاره دکل واحد واحد من جزئیات هذا المفهوم وروسته ئی وضع د هذا کړیدئے دپاره دکل واحد من الجزئیات پس وضع عامة ده ځکه چه مرآتیت دامر کلی پکی شته او موضوع له خاص دئے ځکه چه جزئیات دی او مثال د ثالث لکه اسماء اشارات پر رای دمتقدم ځکه چه دوئی وائی چه واضع اولاً متصور کړیدئے مفهوم دهذا یعنی موضوع له وروسته ئی دا مفهوم مرات کړئ دئے دپاره د کل واحد من الجزئیات وروسته ئی وضع کړیدئے دپاره دعین دغه مفهوم کلی پس وضع عامه ده ځکه چه مراتیت پکښی دئے او موضوع له هم عام دئے ځکه چه مفهوم کلیدئے او قسم رابع مجرد احتمال عقلی دئے ورلره وجود په خارج کښی نشته.

**ضابطه نمبر ۹**: فرق په مابین د مصدر او د علم مصدر او د اسم مصدر کښی دادئے امر دالة علی الحدث به خالی نه وی یا به مشتق منه وی یا نوی که اول وو نو دا مصدر وی اوکه ثانی وو نو بیا به خالی نه وی یا به

Maktaba Tul Ishaat.com

موضوع وی دپاره د ماهیت په لحاظ د حضور ذهنی او تعین ذهنی سره یانه که اول ۋ نو داعلم مصدری اوکه ثانی ۋ نو دا اسم مصدر دی او معنی د حضور ذهنی داده چه ذهن حکم وکړی چه دا ماهیت ممتاز دئے په ذهن کښې د تمامو هغه ماهیاتو څخه چه دده سره په ذهن کښی دئے او فرق په مابین د علم مصدری او اسم مصدر کښې داسی دئے لکه فرق په مابین د علم جنس او اسم جنس کښی مثلاً لکه اسامة او اسد شو څکه چه اسامه موضوع دئے دپاره دحیوان مفترس په لحاظ دحضور ذهنی سره او اسد موضوع دئے دپاره د حیوان مفترس من حیث هی هی دارنګه فرق په مابین د تصوراتو اربعه ۋ کښی دادئے چه تصور چه عبارت دئے دحصول څخه دا حاصل به خالی نه وی یا به ذاتیات وی یابه عرضیات وی که اول ۋ نو بیا به خالی نه وی یا به مرات دپاره د ملاحظه دماقصد تصوره وی یانه که اول وو نو دا باالکنه اوکه ثانی وو نو دا بکنهه دئے او که حاصل عرضیات ۋ نو یابه مرات دپاره دملاحظة دماقصد تصوره وی یانه که اول ۋ نو دا تصور باالوجه شو اوکه ثانی ۋ نو دا بوجهه شو پس دهغه څخه بکنهه پر دوه قسمه دے تفصیلی او اجمالی اجمالی دیته وائی چه تمثل او ارتسام د نفس شئ وشی په ذهن کښی او تفصیلی دیته

وائي چه حصول د ذاتياتو وشي خومرات دپاره دملاحظة دماقصد تصوره نه شي.

**ضابطه نمبر ۱۰**: نفس ناطقه يو جوهر نوراني دے چه مجرد دے دمادي ځخه او متعلق دے په بدن پوري په طريقه دتدبير او تصرف سره او دنفس ناطقه دپاره قوتان دي يو قوت عملي دئے چه په هغه سره فعل كوي په ماتحت خپل كښي او بل قوت نظري دے چه په هغه سره انفعال د علوموكوي دمبداء الفياض ځخه اولكه چه دنفس ناطقه دپاره لابدي ده په جهت د قوت عملي كښي ألاتو ځخه چه بدن دےنو دا رنګه دنفس ناطقة دپاره لابدي ده په جهت د قوت نظري كښي دپاره دحصول دعلومو ځخه اوألات لپاره دحصول دعلومو لس دي پنځه ظاهري دي او پنځه باطني دي پنځه ظاهري دادي:

۱- باصره.

۲- سامعه.

۳- ذائقه.

۴- لامسه.

۵- شامه.

او باطني دادي :

Maktaba Tul Ishaat.com

۱- حس مشترك.

۲- خيال.

۳- واهمه.

۴- متصرفه.

۵- حافظه.

حس مشترك مدرك دصورو دمحسوساتو دے او خزانه ورته خيال دئے واهمه مدركه د معانيو حزئيو دئے لكه صداقت په مابين د زيد او عمر كښي شو او عداوة په مابين دشاة او د ذئب كښي شو او خزانه ورته حافظه ده او د متصرفه كار تحليل او تركيب دے په مابين د صورو متناسبو او صورو متباعده ؤكښي الغرض په پراسي دانسان كښي يعني په ذهن كښي تجاويف ثلاثه دي: تجويف اول، تجويف ثاني، تجويف ثالث. او په مقدم د تجويف اول كښي حس مشترك دئے او په مؤخر كښي خيال دے او په مقدم تجويف ثاني كښي واهمه دے او په مؤخر كښي حافظه ده او په مقدم دتجويف ثالث كښي متصرفه ده او په اخير كښي فلاسفؤلا علمي ښكاره كړيده نفس ناطقه په اعتبار دحواسو باطينه سره مسمى كولئ شي په ذهن سره.

**ضابطه نمبر ۱۱**: میزان دعالم او دعاقل عالم به هغه ځوك وي چه موجود باالفعل قائم باالذات مجردله مادي او دغو اشيو دمادي ښخه وي او دا ميزان منحصر دئے په ځلورو اشياؤ كښي ذات واجبي، عقول عاليه، نفوس فلكيه، نفوس ناطقه نو عالم منحصر شو په دي ځلورو كښي په رايه د مناطقه ؤ باندي ميزان د معلوم او معقول به هغه شئ وي چه حاضر او موجود باالفعل وي لپاره د عالم يا په وجود اصلي سره او يا په وجود بصورته سره لكن ميزان د معقوليت چه حضور او وجود دے دا حضور او وجود كيړي په يو دعلاقو ثلاثو سره چه عينيت دے، نعتيت دے، او معلوليت دے پس واجب تعالى عالم دے پر ذات په علاقه د عينيت سره او پر صفاتو په علاقه د نعتيت سره او پر ممكناتو په علاقه د معلوليت سره او دا دري سره علاقي د علم حضوري دے نو علم پر ذات اوپر صفاتو او پرممكناتو علم حضوري شو او باقي پاتي شو مدركات ثلاثه چه عقول عاليه، نفوس فلكيه او نفوس ناطقه دےنو د دري ؤ ته خپل ځان حاضر دے په علاقي د عينيت سره نو علم حضوري شو او صفات انضماميه ورته حاضر دے په علاقي د نعتيت سره نو علم حضوري

Maktaba Tul Ishaat.com

شو او ماسوی ورځخه غائب دئے په وجود اصلی سره او حاضر دئے ورته په وجود بصورته سره نو علم ئی په ماسوی علم حصولی شو.

**ضابطه نمبر ١٢**: وجود او حصول داشیاؤ په نزد د متکلمینو منحصر دئے په وجود خارجی کښې او داشیاؤ دپاره وجود ذهنی نشته او دلیل دا بولی که اشیاء په ذهن کښې راشی نو لازم به شی غرق په وخت د تصور د دریاب کښې یا حرق په وخت د تصور د نارکښې او خرق په وخت د تصور د جبل کی لکن تالی باطل دئے نووجود ذهنی د اشیاؤ هم باطل دئے لکن فلاسفه قائل دی پدی خبره چه د اشیاء دپاره ماسوی د وجود خارجی ځخه بل وجود هم شته چه وجود ذهنی دئے و الا فیلزم صدق الایجاب بدون وجود الموضوع لکن التالی باطل فاالمقدم مثله وجه الملازمة ځکه چه کله مونږ حکم وکړو په یوشی باندے ایجاباً لکه العنقاء طائر اوداشی په خارج کښې نوی نوکه په ذهن کښې هم موجود نشی نو لازم به شی صدق الایجاب بدون دوجود الموضوع لکن التالی باطل ځکه چه ثبوت الشئ للشئ یستدعی ثبوت ماثبت له او نه لازمیږی غرق او حرق او خرق ځکه چه حق په حصول د

اشیاؤ کښې هغه حصول د اشیاؤ بانفسها دئے او حصول بانفسها دا معنی چه په وخت د علم کښې په زید خارجي ماهیت کلي لکه حیوان ناطق حاصل شو په ذهن کښې او تمام تشخصات خارجیة چه منافي دي دحصول ځخه په ذهن کښې او دا رنګه تمام لوازم خارجیه لکه اخراق او اغراق او احراق شو نه حاصلیږی په ذهن کښې بلکښې ماهیت کلي حاصلیږی وروسته دا ماهیت کلي په مرتبه د قیام باالذهن کښې دده سره تشخصات ذهنیه ولګیږی مناسب د تشخصاتو د زید سره وروسته حاصل شی په ذهن کښې یو شخص ذهني مماثل د شخص خارجي سره چه زید دئے ددی وجه ځخه عند المراتیت کاشف ګرځی دپاره د زید نه دعمرو، بکر، خالد دپاره او نه دغیر هم دپاره.

**ضابطه نمبر ۱۳**: اقسام د عالم عالم پر څلور قسمه دئے صوفي، اشراقي، متکلم، مشائي، وجه دحصرئی داده چه عالم به خالي نه وي یا به اثبات دمدعی په وجدان سره کوی یا په دلیل سره که اول وو نو بیا به خالي نه وي یا به تابع ددین سماوي وي یا نه که اول وو نو دا صوفي دئے او که ثاني وو نو دا اشراقي دئے او که اثبات د مدعی

Maktaba Tul Ishaat.com

په استدلال سره کولو نو بیا به خالی نه وی یا به تابع ددین سماوی وی یانه که اول ؤ نو دا متکلم دئے او که ثانی ؤ نو دا مشائی دئے.

**ضابطه نمبر ١٤**: فرق په مابین دشرط او سبب او علت کښې دادئے شرط شرط مصحح لپاره د مشروط او مؤثرندی لکه وضوء د صلوة دپاره او سبب او علت مؤثردی بیا په سبب او علت کښې فرق دئے هغه دادئے چه علت مؤثر باالذات دے او سبب مؤثر باالواسطه دئے مثال ئی دادئے لکه اعتاق چه مؤثر دئے په زوال د ملك بضعی کښې په توسط د زوال دملك رقبی سره یعنی اعتاق سره زوال د ملك رقبی راغلئے او د زوال د ملك رقبی سره زوال د ملك د بُضعی راغلئی نو زوال دملك رقبی مؤثر باالذات شو په زوال د ملك بضعی کښې نو دا ورله علت شو او اعتاق پکښې مؤثر باالواسطه شو نو دا ورله سبب شو.

**ضابطه نمبر ١٥**: ترکب د ماهیت دامرینو متساویینو یا تعریف دماهیت په امرینو متساویینو نو دا مسئله مختلف فیها ده بعضی وائی چه دا جائز دئے ځکه چه جائز ده چه هریود عام من وجه وی او خاص من وجه لکه په

تعریف د کلمة کبنی لفظ وضع نو لفظ جنس دئے عام دئے
موضوع او مهمل لره او وضع فصل مخرج دئے مهمل لره
او وضع جنس دئے او عام دئے لفظ اوغیر لفظ لره لکه دوال
الاربعة شو او لفظ فصل مخرج دئے د دوال اربعه دپاره
لکن تحقیق دادئے چه ترکب د ماهیت په اعتبار د تعریف
د امرینو متساویینو څخه ناجائز دئے ځکه چه مراد په
امرینو متساویینو سره متساویین من کل الوجوه دئے او
امرین متساویین من کل الوجوه څخه ترکب د ماهیت
حقیقی نه راځی ځکه په ترکیب حقیقی کبنی لابدی دی له
جنس لا اوله د فصل څخه یعنی د مابه الاشتراك او ما به
الامتیاز څخه او داندئے ممکن په متساویین من کل
الوجوه کبنی او په ماده مذکوره کبنی نه دئے متساویین
من کل الوجوه ځکه چه هرواحد من وجه عام او من وجه
خاص دئے او دا رنګه ترکیب حقیقی تقاضا کوی د کون د
احدهما جنس او د اخر فصل علت محصله دپاره د جنس
وی نو ترکیب حقیقی تقاضا کوی دکون د احدهما علت او
مساواة تقاضا کوی د کون دهرواحد علت او معلول نو په
واقع کبنی لازمیږی دور او دور باطل دئے نو ترکیب د
امرینو متساویینو څخه دا هم باطل دئے.

Maktaba Tul Ishaat.com

**ضابطه نمبر ۱۶**: تحقیق فی الحمد الحمد فی اللغة ستودن و فی الاصطلاح هوالثناء باللسان علی الجمیل علی جهة التعظیم و التبجیل فان قیل التعریف لیس بجامع او لیس بصحیح ځکه چه دا تعریف باالاخص دئے نه دئے شامل حمد د واجب لره په خپل ذات باندی ځکه چه واجب لره لسان نشته مونږ جواب کوو چه که تعریف خاص دئے نو معرف هم خاص دئے ځکه چه مراد په حمد سره حمد د عبادو دئے پس نه لازمیږی تعریف بالاخص اوکه او منم چه معرف عام دئے نو بیا دا جواب کوو چه مراد په لسان سره ماده د تعبیر ده یعنی ما یلیق بشانه که څوك ووائی چه ذکر د تبجیل پس د تعظیم څخه مستدرك دئے ځکه چه مفاد د دواړو یودئے مونږ وایو چه مراد په تعظیم سره تعظیم ظاهری دئے او په تبجیل سره تعظیم باطنی دئے او فائده پکښی اخراج د سخریه او استهزاء ده ځکه چه په سخریه کښی تعظیم باطنی شته لکن مدائح د شعراء نه خارجیږی بلکه دا په حمد مصطلح کښی داخل دئے ځکه چه عشاق انتهائی متعظمین وی په حق د احباؤ خپلو کښی لکه په دی قول د شاعر کښی:

ثلاثـــة تشـــرق الـــدنيا ببهجتهـــا
شـــمس الضـــحى ابـــو اســـحق و القمـــر

پس دهغه ځخه مونږ وايو چه مراد په جميل سره جميل اختيارى دئے يعنى هغه اوصاف چه په اختيار د محمود كښى وى دپاره ددى چه فرق راشى د حمد دمدح ځخه او دليل پرى دادئے لان الجميل صفة الفعل و كل فعل اختيارى پس نتيجه دا راغله چه الجميل صفة اختيارى لكن دا نتيجه مطلوب نده ځكه چه مدعى داده چه الجميل اختيارى او نتيجه حاصله داده چه جميل صفة اختيارى و كم من فرق بينهما پس مونږ ارتكاب د قياس مساواة كوو يعنى نتيجه حاصله د قياس اول به صغرى كړو او يوه قضيه مسلمة به ورته كبرى كړو پس حاصل به شى شكل اول بديهى الانتاج هكذا الجميل صفة اختيارى وكل صفة اختيارى اختيارى پس تنيجه دا راغله فالجميل اختيارى و ما هذا الا مطلوبنا لكن اعتراض وارديږى چه صغرى د قياس اول مخدوشه ده يعنى نه منم چه جميل صفت دفعل راځى بلكه صفت دغير فعل هم راځى لكه زيد جميل يا الله جميل او كه صغرى د قياس اول هم ومنم نوكبرى د قياس اول نه منم چه هرفعل به اختيارى وى لكه حركت د مرتعش شو ځكه چه دا فعل دئے او د

Maktaba Tul Ishaat.com

اختیار د مرتعش کښې نـدئے او کـه کبری د قیـاس اول هـم ومـنم نـو کبـری د قیـاس الثـانی نـه مـنم چـه هرصـفت د اختیـاری بـه اختیـاری وی ځکـه چـه صلوة اختیـاری دئے او صـفت ئـی چــه حســن دئے ثابـت بحکـم الشـرع دئے نـدئے اختیـاری جـواب د اعتـراض دادئے د اول ځخـه چـه مـراد پـه جمیـل سـره جمیـل واقـع پـه تعریـف دحمـد کښې پـه اصـل کښـې صـفت د فعـل مقـدر دئے یعنـی هوالثنـاء باالفعـل الجمیـل نـه پـه کـل تراکیبـو کښـې جـواب د اعتـراض ثـانی ځخه دادئے چه فعل پردوه قسمه دئے یـو فعـل بحسـب اللغـة دئے او بل فعـل بحسـب العـرف دئے فعـل بحسـب اللغـة عـام دئے اختیـاری او غیـر اختیـاری دواړتـه ورځـی لکـن فعـل بحسب العرفی خاص دئے پـه اختیـاری پـوری او کبـری بنـاء دئے په عرف باندی او جـواب د اعتـراض ثالـث ځخـه دا دئے چه صفت د اختیـاری بـه اختیـاری وی لکـن مـراد پـه صـفت سره هغه صفت دئے چه محمـول کیـږی پـر موصـوف بانـدی په حمل متواطی سره یعنی بغیـر د واسـطی د فـی او ذو او لام ځخـه او پـه مـاده د نقـض کښـې حسـن نـدئے محمـول پـه صلوة په حمـل متـواطی سره بلکښـې محمـول دئے پـه حمـل اشـتقاقی سـره ځکـه چـه نشـی ویلئـی الصـلوة حسـن بلکـه ویلئے شی الصلوة ذو حسـن. تحقیـق پـه لفـظ د جـلال کښـی

دادئے چه لفظ د الله خوك وائی سريانی دئے او خوك وائی چه عربی دئے چه خوك وائی عربی دئے بیا بعض وائی چه مشتق ندئے بلکه اسم موضوع براسه دے ځکه چه مدلول ئی ندئے مشتق او محتاج نو لفظ ئی هم ندئے مشتق ځکه چه مشتق محتاج وی مشتق منه ته !و بعض وائی چه مشتق دئے د اَلَهَهُ څخه یعنی عَبَدَهُ ځکه بندګان عبادت دده کوی او بعض وائی چه مشتق دئے الهت الی فلان ائے جزعت یعنی بندګان جزع او فریاد کوی د ته اوخوك وائی مشتق دولَهَ څخه دئے یعنی په معنی د تَحیَّر سره یعنی بندګان متحیر دی په شان دده کبنی کما قال السعدی ای برتر از خیال وقیاس وگمان وهم . زهر چه دیده ام وخوانه ام وشنیده ام.

دفتر تمام گشت بپایان رسیده عمری ما همچنان در اول وصف تو مانده ایم

پس دهغه بعض وائی چه علم دئے دپاره د ذات معینه چه مدبر السموات والارض دئے او خوك وائی چه اسم دئے لپاره د مفهوم کلی چه واجب الوجود دئے لکن اول مسلك تحقیق دئے والا لم یکن کلمة التوحید مفیداًللتوحید لکن التالی باطل فاالمقدم مثله ووجه الملازمة ځکه که الله موضوع شی لپاره د مفهوم کلی نو په لا الـه الا الله کبنی به اثبات دمفهوم کلی وشی او مفهوم کلی کبنی شرکت

Maktaba Tul Ishaat.com

دئے او شرکت تعدد دئے نو اثبات د تعدد وشو او تعدد منافي دی د توحید سره نو اثبات د توحید ونشو.

**ضابطه نمبر ۱۷**: فرق په مابین د محمود علیه او محمد به کښې دا دئے محمود به عبارت دئے د وصف حسنه مسنده څخه یعنی ستا په خوله کښې چه اسناد د صفت وشي لکه زید عالم حسن کریم نو دا محمودبه ده او درجه د حکایت ده او محمودعلیه که عبارت شي دوصف حسنة ثابته في نفس الامر څخه نو پدی وخت کښې د دواړه په مینځ کښې فرق د حکایت او د محکی عنه دئے او حکایت او محکی عنه کښې په رایه د جمهور و اتحاد ذاتی او تغایر اعتباری دئے او که محمود علیه عبارت شي د مدخول د کلمة د علی څخه نو پدی وخت کښې عام خاص مطلق دئے محمود به اعم مطلق او محمود علیه اخص مطلق دئے یعنی کله چه وویلئ شي حمدت زیداً علی علمه نو دا محمودبه دئے په معنی مذکور سره او محمودعلیه دئے په معنی مذکوره سره نو دا ماده د اجتماع شو او کله چه و ویلئے شي حمدت زیداً بعلمه نو دا محمودبه شو په معنی مذکوره سره او نه دئے محمودعلیه په معنی مذکوره سره او که محمودعلیه

عبارت شي د باعث علی الحمد څخه نو پدې وخت کښې عموم خصوص من وجه دئے ماده د اجتماع او مادتین افتراقیتین من جانبتین غواړی ماده د اجتماع داده چه کله زید ته اعطاء د درهم وشی د جانب د عمرو څخه او زیدئی وستائی په اعطاء د درهم سره مثلاً وویلئے شی حمدةُ عمرواً باعطاء درهم نو دا محمودبه دئے په معنی مذکوره سره او محمودعلیه دئے په معنی مذکوره سره نو دا ماده د اجتماع شوه خو چه کله عمرو اعطاء د درهم وکړی زیدته او زیدئی وستائی په حسن مثلاً وویل شی حمدت عمرواً علی حسنه نو دا محمودبه دئے په معنی مذکوره سره او ندئے علیه په معنی د *باعث علی الحمد* سره ځکه چه باعث په نفس الامر کښې *اعطاء* د درهم ده او اعطاء د درهم محمودعلیه دئے په معنی مذکور سره خوندئے محمودبه ځکه چه ندئے وصف حسنه مسنده پس پدی ماده کښی متحقق شو مادتین افتراقیتین د جانبینو څخه نوشو عموم خصوص من وجه.

**ضابطه نمبر ۱۸**: زده کړه دا خبر چه هردوه مفهومین چه په مقایسی سره یوبل ته واخلی نو متحقق کیږی په مابین د دوئی کښی یو دنصبو اربعهٔ څخه مساواة عام

Maktaba Tul Ishaat.com

او خــاص مطلــق عــام او خــاص مــن وجــه تبــاين لكــن مفهومينو كښې چه نسبت د مساواة وی نو منعقد کیږی په موجبتين كليتين له جانبينو څخه لکه انسان او ناطق شو يقال كل انسان ناطق و كل ناطق انسان شو او چه نسبت د عام خاص مطلق وی نو منعقد کیږی به موجبه كليه د جانبه دخاص څخه او سالبه جزئيه د جانبه د عام څخه لکه انسان او حیوان شو مثلاً يقال كل انسان حيوان او بعض الحيوان ليس بانسان او چه نسبت دعام خاص من وجه وی نو منعقد کیږی به موجبه جزئیه مادة الاجتماع او سالبتين جزئيتين مادتين الافتراقيتين لكه حيوان او ابيض شو مثلاً يقال بعض الحيوان ابيض دا مادة د اجتماع ده وبعض الحيوان ليس بالبيض و بعض الابيض ليس بحيوان دامادتين افتراقيتين شوی او چه نسب د تباين وی نو منعقد کیږی به سالبتين كليتين د جانبينو څخه لکه انسان او حجر شو مثلاً يقال لاشئ من الانسان بحجر ولاشئ من الحجر بانسان شو.

**ضابطه نمبر ۱۹**: دور ، دور په لغت کښی سیر یعنی گرځیدلو ته وائی کوښه کښی او په اصطلاح کښی توقف الشئ على ما يتوقف على ذالك الشئ ته وائی او لازم ورسره توقف الشئ على نفسه دئ پس له هغه څخه

دور پر دوه قسمه ده یو معی او بل مهروب وجه دحصرئی دادئے دور چه عبارة دئے د توقف څخه دا توقف به خالی نه وی یا به په جهت واحده سره وی یا په جهتینو مختلفتینو سره وی که ثانی ؤ الذکر ؤو نو دا دور معی دئے لکه توقف د لبنتینو قائمتینو منحنیتینو شو په اخرپوری او دیته دور معی ځکه وائی چه معی ماخوذ د معیت څخه دی او معیت مجامعت ته وائی او دا دور هم مجامع دئے دنفس الامر سره او واقع دئے په نفس الامر کښی نو دا دور جائز دئے او که اول الذکر وه نو دا دور مهروب دئے او دا ندئے جائز ځکه چه مهروب دهرب څخه دئے او هرب تښتی ته وائی او ددی دور د وقوع څخه عقل تیښته کوی پس د هغه څخه مهروب پر دوه قسمه دئے یو مصرح او بل مضمر دئے او وجه دحصرئی داده دور چه توقف دئے او داتوقف به خالی نه وی یا به په درجه واحده سره وی یا به په درجتینو اوفصاعداً سره وی مثال د اول لکه توقف د آ پر بَ او توقف د ب پر آ او مثال د ثانی لکه توقف د آ پر بَ او د بَ پر دَ او دَ پر جَ او د جَ پر لَ او د لَ پر آ پس اول ته مصرح وائی ځکه چه مصرح د تصریح څخه دئے او دلته هم توقف دشئ پرخپل نفس پوری صراحة او ظاهراً دئے ځکه چه و سائطی کثیره نشته او ثانی ته مضمر وائی ځکه چه مضمر د اضمار څخه دئے او

Maktaba Tul Ishaat.com

ضمار استتارته وائی او دلته هم دوجی دوسائطو کثیروۀ
څخه توقف دشئ تراخپل نفس پوری مسطور دئے وجه د
استحالی د دور مهروب داده چه پدے کښی کم از کم
تقدم دشی یو خپل نفس پوری بدرجتین راځی مثلاً آ
موقوف پر بَ او بَ موقوف پر آ نو آموقوف علیه د بَ
شو نو مقدم شو پری په یو درجه سره ځکه چه موقوف
علیه مقدم وی او بَ موقوف علیه د آنو مقدم شو پری په
یوه درجه ځکه چه موقوف علیه مقدم وی نو آ مقدم شو
پر آ په دوۀ درجو او تقدم دشی پرخپل نفس په یوه درجه
باطل ده نو په دوو درجو په طریق اولی سره باطل وی
ځکه چه تقدم او تاخر نسبت دئے او نسبت تقاضا د تغائر
کوی او دشئ او دنفس شئ په مابین کښی عینیت دئے او
چاویلئ دی چه دور مستلزم دئے تسلسل لره او تسلسل
باطل دئے نو دورهم باطل دئے او استلزام د دور تسلسل
لره بنا دئے په مقدماتو ثلاثو باندی یو داچه موقوف علیه
د موقوف علیه دشئ موقوف علیه ددغه شی وی دویمه
مقدمه داچه موقوف او موقوف علیه به متغائران وی
دریمه مقدمه دا چه حکم دشئ او دنفس شئ به یووی نو
مسئله د استلزام د دور تسلسل لره پس په استعانت د
قدماتو ثلاثه ؤ سره مونږ وایو تصویر د دور د ادئے آ
موقوف بَ موقوف علیه موقوف آ موقوف علیه پس په

دی تصویر کښی په استعانت دمقدمی اولی آ موقوف شو پر آ پوری لکن په استعانت د مقدمی ثانی آ به موقوف تر آ پوری نه وی بلکه یو گونه تغائر به غواړی مثلاً آ به موقوف تر نفس آ پوری وی نوبه استعانت د مقدمی ثالثی چه حکم د شیٔ او دنفس شی یووی نو لکه آ چه موقوف تر ب پوری وه نو نفس آ به هم موقوف تر بَ پوری وی نو حاصل دا راغیٔ نفس آ موقوف تر بَ او بَ موقوف تر نفس آ پوری ځکه چه د اَ ځخه خو مونږ په حکم د مقدمی ثانی نفس آ اخیستے دئے نو نفس آ موقوف تر نفس آ اوس په حکم د مقامی ثانی چه موقوف موقوف علیه به متغائران وی نو نفس آ به موقوف ترِ نفس آ پوری نه وے بلکه نفس آ پوری به موقوف وی هلم جراً فیلزم اجتماع نفوس غیر متناه وماهذا الاتسلسل فاالدور مستلزمْ التسلسل لکن تسلسل باطل دئے او د بطلان د تسلسل اسانه وجه داده چه تسلسل عبارة دئے د وجود د آ مور وغیر متناهیه ؤ مرتبه ؤ باالفعل او دا تقاضا د وجود د بعد او مسافت غیر متناهی کوی او تناهی د ابعادو او مسافاتو ثابته ده پر برهان سلمی سره لکه دا خبره په میبذی کښی ثابته ده نو وجود د امور و غیر متناه دپاره جواز پاته نشوه او باقی نور دلائل هم شته لکه برهان تضعیف تضایف او تطبیق شو لکه دا

دلائل مذکور دئ په سلم العلوم او ملاحسن او په نورو مطولاتو کښې.

**ضابطه نمبر ۲۰**: مجموع اقسام د علم نه (۹) دی پنځه تصور دی:

۱ - تصور بهت.

۲ - تخیل.

۳ - شك.

۴ - وهم.

۵ - انکار.

اوخلور اقسام د تصدیق دی:

۱ - یقین.

۲ - ظن.

۳ - تقلید.

۴ - جهل مرکب

وجه دحصرئی داده علم چه عبارة دئ د صورة حاصله څخه دا صورة به خالی نه وی یا به نسبت وی یا به غیر نسبت وی که ثانی ؤ الذکورؤو نو دا تصور بهت شو لکه تصور د مفرداتو شو که اول الذکروو نو بیا به خالی نه وی یابه پکښې قصد د مطابقت لا مطابقت د واقع سره شوے

وی یانه که ثاني الذکر وو نو دی ته تَخَیُّلْ وائی ښکه چه تَخَیّلْ عبارت دئے د حصول دصورۃ د قضی ښخه په ذهن کښې نه په قصد دمطابقت لا مطابقت سره او که قصد د مطابقت لامطابقت پکښې وو نو بیا به خالي نه وی یابه وروسته دحصول د نسبت ښخه عارضیږی ورته یوحالت چه تعبیر تری په تکذیب کولئ شی یانه که اول الذکر وو نو دیته انکاروائی او که دا حالت ورته نه عارضی کیدو نو بیا به خالي نه وی یا به پکښې تجویز د جانب مقابل وی یا نه که وو یا به دواړه جانبه مساوی وی په حکم د ذهنی کښې یا به یوجانب راجع اوبل مرجوح وی که دواړه مساوی وو نو دا شك دئے که راجح وو نو دا ظن دئے اوکه مرجوح وو نو دا وهم دئے اوکه تجویز د جانب مقابل نه وو نو یا به مطابق د واقع سره وی یانه که ثاني الذکر وو نو دا جهل مرکب دئے او که مطابق د واقع سره وو نو یا به زائله کیږی په تشکیك د مشکك سره یانه که زائله کیدو نو تقلید دے اوکه نه زائله کیدو نو دا یقین دئے ددی وجهی ښخه د یقین تعریف داکیږی اعتقاد جازم ثابت راسخ مطابق د واقع سره پس مجموعه اقسام د علم نهه شو.

Maktaba Tul Ishaat.com

**ضابطه نمبر ۲۱**: وجود بسیط دئے یعنی وجود لره اجزاء نشته ولی ځکه که وجود لره اجزاء راشی مثلاً د وجود دوه اجزاء راشی نو یا به لازم شی اجتماع د نقیضینو یا عروض دشی خپل نفس ته یا خلف تالی باسرها باطل نو وجود لره اجزاء هم باطل دئے وجه د ملازمی ځکه چه یو جز دوجود به واخلو چه دا جز متصف په عدم دئے او که متصف په وجود دئے که متصف په عدم وی نو اجتماع راغله ځکه چه جزء د وجوده ئی نوموجود دئے او چه متصف په عدم دئے نو معدوم دئے او که دا جزء متصف په وجود وی نو وجود ورته عارض شو .س وجود به ورته یا عارض وی په اعتبار د تمام اجزاء سره یا په اعتبار د بعضو اجزاو سره که په اعتبار د تمام د اجزاو سره وی نو یو د اجزاؤ څخه دا جز هم دئے نو لازم شو عروض دشئ خپل نفس ته او که وجود عارض وی جزء ته په اعتبار د بعضو اجزاء سره چی سوا ددئے جزء څخه دئے عارض بتمام الاجزاء عارض نشو او دا خلف دئے.

**ضابطه نمبر ۲۲**: وجود د واجب عین دئے د واجب سره ولی که عین نشی یا به جزء وی یا به زائد وی زائد ی دری احتماله دی قائم منضم، قائم منتزع، منفصل

جزء خونشي كيدلى لانه بسيط ذهناً و خارجاً او منفصل
هم نشي كيدلئے ځكه چه وجود يحمل على الواجب و
المنفصل لايحمل على ما انفصل عنه او قائم هم نشي
كيدلئے ځكه چه قائم په قيام انضمامي سره وى او كه په
قيام انتزاعي سره وى محتاجه وى ماقام به ته او احتياج
علامه او اماره د امكان ده نو وجود ممكن شو او د
ممكن دپاره علت پكاردئے پس علت وجود دواجب دپاره
يا به غير د واجب څخه وى يا به ذات د واجب وى كه غير
د واجب څخه وو نو واجب ممكن شو ځكه چه محتاج شو
په ثبوت دوجود كښى خپل ځان نه غيرته او امكان ئى
منافى دئے دو جوب لذاته سره ځكه چه واجب لذاته ديته
وائى چه وجودئى په اعتبار د غير سره نه وى اوكه علت
دپاره د ثبوت دوجود واجب ته عين ذات د واجب وى يا به
لازم شى تقدم دشئ پرخپل نفس يا كون د شئ واحد
موجود په وجودين سره وى وجه د ملازمه داده چه شئ چه
علت دشئ گرځى په حين د عدم كښى نه گرځى بلكه په
حين دوجود كښى گرځى ځكه چه علتيت يعنى كون شى
علتا من خواص الوجود دئے نو په جانب د علت كښى چه
ذات واجبى دئے بل وجود به وى سوا دوجود د معلول څخه
پس وجود په جانب د علت كښى يا به عين وجود معلول

Maktaba Tul Ishaat.com

وی یا به غیر وی که اول الذکر وو نو تقدم د شئ پرخپل نفس راځی ځکه چه مرتبه دعلت مقدمه وی پر معلول یا ذاتاً او زماناً دواړه که معلول حادث وو یا ذاتاً فقط که معلول قدیم وو او تقدم دشئ پرخپل نفس باطل دئے لکه تیرشو په بحث د دور کښی او که وجود په جانب د علت کښی غیر وی دوجود د معلوله څخه نو لازم شو کون دشئ واحد موجود په وجودینو سره او دا هم باطل دئے ځکه چه وجود ما به الموجودته وائی نو کله چه په یوه سره وجود راغله نو وجود ثانی به یا افاده د وجود کوی یانه کوی که نه کوی نو وجود وجود نشو و قد فرض وجوداً او که کوی نو تحصیل د حاصل راغے ځکه چه وجود په معنی د ما به الموجودیة سره دئ یعنی راتلل دلیس څخه ایس ته او دلیس څخه حاصل دئے په وجود اول سره.

**ضابطه نمبر ۲۳**: بداهة او نظارت چاویلئے دی چه دا صفت د معلوم دئے او چاویلئ دی چه داصفت د علم دئے ځوك چه وائی چه دا صفت د معلوم دئے دلیل پری دا وائی چه نظری والی صفت د معلوم دئے ځکه چه نظری مرتب علی النظرته وائی او مرتب په نظر او لا باالذات مرتبه معلوم ده نو نظری صفت دمعلوم شو او کله چه نظری

صفت د معلوم شو نو بداهت هم صفت د معلوم شو ولی ځکه قائل باالفصل نشته او خاصکر پر رائی د هغه چا چه بداهة او نظارت کښې تقابل تضاد وائی ځکه چه شرط په تقابل تضاد کښې امکان د توارد د جانبینو څخه دئے او ځوك چه وائی چه دا صفت د علم دئے نو دلیل دا وائی چه نظری ولی صفت د علم دئے ځکه چه نظری مرتب علی النظرته وائی او نظر ترتیب ته وائی او مقصود باالترتیب علم وی نو نظری صفت د علم شونو بدیهی هم صفت د علم شو څه چه قائل باالفصل نشته خاصکر پررائی دهغه چاچه د دوئی په مینځ کښې تقابل تضاد وائی.

**ضابطه نمبر ۲٤**: تقابل په مابین دبدیهی او نظری کښې ځوك چه تعریف د بدیهی کوی په مالا یتوقف علی النظر او دنظری په یتوقف علی النظر سره نو تقابل عدم والملکه شو او ځوك چه تعریف د بدیهی کوی په سهله الحصول او دنظری په صعبة الحصول یا د بدیهی په اجلائیت مغنیة عن النظر او د نظری په اخفایت محوجة الی النظر سره تقابل تضاد شو ځکه چه پدی تعریفینو دواړه وجودی شو که ځوك ووائی چه اخذ د توقف په تعریف د نظری کښې صحیح ندئے ځکه چه د توقف دا

Maktaba Tul Ishaat.com

معنی لولاه لا متنع یعنی که نظر نوی نو حصول د نظری
به هم نوی حالانکه صاحب د قوة قدس ته نظریات حاصل
دئے بغیر د نظر څخه او قوة قدس دیته وائی چه سرعت
انتقال د ذهن د مبادی ؤ څخه مطالبوته بغیر د ترتیب
څخه کوی جواب اول دادئے چه توقف په معنی مشهور سره
ندئے بلکه په معنیٰ دان وجد فوجد سره دئے یعنی ان وجد
النظر فیوجد النظری و ان امکن ان یوجد النظری بدون
النظر کما لصاحب القوة القدس جواب الثانی دادئے چه
حصول په تعریف د نظری کښی په مرتبه د مطلق حصول
کښی دئے نه په مرتبه دحصول مطلق کښی یعنی په مرتبه
د مطلق شئ کښی دئے نه په مرتبه د شئ مطلق کښی او
مطلق شی ته حکم د فرد ساری کبری ولاشك چه یو فرد د
حصول چه حصول للفاقد دئے دا موقوف په نظر دئے اګر که
فرد اخر د حصول چه حصول للواجد دئے ندئے موقوف
پرنظر او د مطلق شئ دپاره حکم د فرد هم کافی دئے لیکن
شئ مطلق ته حکم د خاص فرد نه ساری کیږی بلکه حکم
عامة ساری کیږی یعنی دا حکم به موجود وی په تمامو
افرادو کښی جواب ثالث دادئے چه علم د فاقد غیر دئے د
علم د واجد څخه نو جائز ده چه یو علم دی موصوف په
نظری او بل په بدیهی شی څکه چه اجتماع د متقابلینو

ناجائز ده په محل واحده کښې نه په محلينو کښې او کلام
بناء دئے پر مذهب دهغه چا چه بداهت او نظارت من
صفات العلم وائی ليکن که کلام بناء شی پر مذهب دهغه
چا چه بداهت او نظارت من صفات المعلوم وائی نو
معلوم د فاقد او واجد يوډی نو لازميږی اجتماع د
متقابلينو په محل واحده کښې او دا يقيناً نا جائز دئے

**ضابطه نمبر ۳۵**: فرق په مابين د حکايت او محکی
عنه کښې دادئے په نزد د جمهورو د دوئی په مابين کښې
اتحاد ذاتی او تغائر اعتباری دئے ځکه چه نسبت من حيث
انها متحققة فی لحاظ العقل حکاية و من حيث انها
متحققة لا فی لحاظ العقل بل فی نفس الامر محکی عنه
او هرهغه شيئين چه فرق پکښې ناشی د حيثيت سره وی
هغو کښې اتحاد ذاتی او تغائر اعتباری وئے او د محقق
دوانی په نزد تغائر ذاتی وی ځکه چه حکايت عبارت دئے
د مفهوم د قضيې څخه يعنی مجموع موضوع و المحمول
و النسبت او محکی عنه عبارة دئے د موضوع محيث څخه
يعنی کون د موضوع په خارج کښې په داسې ډول چه
منشا مصححه د انتزاع د محمول وی او دا هلته کيږی چه
مبداء دمحمول قائمه وی په موضوع پوری لکه زيد قائم

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې حکایت کل شو محکی عنه جز شو او کل او جز مغایر باالذات وی نو شو تغائر باالذات او دباقر په نزد هم تغائر باالذات دئے ځکه چه حکایت دئے هم عبارت بولی د مجموع القضیة څخه او محکی عنه عبارة یولی د محمول محیثه څخه یعنی کون دمحمول په خارج کښې په داسې ډول چه صحیح وی انتزاع دده دموضوع څخه او دا هلته کیږی چه مبدأ د محمول قائم وی په موضوع پوری نو بیا کل او جزء شو اوکل او جزء کښې تغائر باالذات وی الحاصل د جمهورو په نزد تغائر اعتباری دئے او محقق دوانی او باقر په نزد تغائر باالذات دئے.

**ضابطه نمبر ۳۶**: فرق په مابین د اتصاف انضمامی لکه الجسم ابیض او اتصاف انتزاعی لکه السماء فوقنا کښې دادئے چه په اتصاف انضامی کښې به هر واحد د موصوف او د صفت به موجود وی په ظرف د اتصاف کښې ځکه چه انضمام دشئ شئ ته فرعه دوجود د منضم او منضم الیه ده په ظرف د انضمام کښې او په اتصاف انتزاعی کښې به موصوف موجود وی په داسې ډول چه کله دا موصوف په مقائسې سره مقابل ده ته واخلو چه هغه مقابل ده وی په انتزاع د صفت کښې نو صحیح به

وی انتزاع ددی صفت دَدَه څخه لکن دا هلته کیږی چه دا صفت مخکی نه وی په خارج کښی موجود ولی که دا صفت مخکی موجود وی نو ستا انتزاع ته څه حاجت دئے ځکه چه وجود واقعی اکد دئے تروجود انتزاعی څخه مثال ئی لکه انتزاع د فوقیت شو دسماء څخه ځکه چه موجود په خارج کښی سماء دی فوقیت نه دی موجود بلکه فوقیت منتزع دی چه لکه سماء په مقائسی سره ارض ته واخلو.

**ضابطه نمبر ۲۷**: ازاله دیوه توهم مشهوره داده چه معتبر په صدق دحمل متعارف کښی وجود د موضوع دئے په نفس الامر کښی لکه وائی چه الثبوت یستدعی ثبوت ماثبت له فی نفس الامر لکن پردی مشهور اعتراض واردیږی چه الخمسة زوج دا دصادق شی ځکه چه الخمسة دا موجود دئے ځکه چه دا یو مفهوم دئے او هر مفهوم متصورری او هر متصور موجود وی په نفس الامر کښی نو الخمسة موجود شو په نفس الامر کښی نو باید چه ثبوت د زوجیت خمسه ؤ لره صادق شی بنا پر قاعده مشهوره حالانکه کاذبه ده لکن وایو په تتمه ددی قاعدی کښی چه نفس وجود د موضوع په نفس الامر کښی او تصور د موضوع نه کافی کیږی لابدی ده د اتحاد

Maktaba Tul Ishaat.com

دمحمول خخه د موضوع سره او دا اتحاد مفسردئے په دی سره چه محمول او موضوع به ذات ذاتی وی لکه الانسان ناطق یا مبدا د محمول وصف قائمه وی په موضوع پوری لکه الانسان کاتب یا محمول وصف منتزع وی د موضوع خخه یا بلا مقائسه بینه و بین شئ اخر لکه الاربعة زوج شو یا به په مقائسی سره شی اخرته لکه زید اعمی یا السماء فوقنا پس مجرد وجود د الخمسة په تصور کنبی نه کافی کیږی دپاره د صدق د وجهی د انتفاء د علاقی د اتحاد خخه.

**ضابطه نمبر ۲۸**: ازاله د توهم مشهوره داده چه ربط ایجابی او موجبه تقاضی د وجود د موضوع کوی لکن اعتراض واردیږی په هغه قضایاؤ چه محمولات ئی منافی دئے د وجوداتو د موضوعاتو سره لکه شریك الباری ممتنع اجتماع النقضین محال و المعدوم المطلق یقابل الموجود المطلق جواب دادئے چه پدی قضایاؤ کنبی لکه شریك الباری ممتنع یونفس موضوع ده لکه نفس شریك الباری نو دا مفهوم موجود او متصور دئے یو شریك الباری په لحاظ د انطباق علی الافراد دئے نو دا محال دئے غیر موجود ممتنع دئے دا رنګه په جانب دمحمول کنبی یو

نفس محمول يعني انه محمول ثابت للموضوع قطعه نظر دخصوصيت دمادي دا متناع څخه بلکه ددي حثيت څخه چه دا يو ربط ايجابي دئے بل داچه دا محمول واخلي په حيثيت دمادي د امتناع سره نو نفس ربط ايجابي په اعتبار د نفس مفهوم د شريك البارى دئے ولاشك چه پدى ملاحظه کښي دا موجود دئے او ثبوت په اعتبار د خصوصيت دمادي د امتناع په اعتبار انطباق د شريك البارى پر افراد و محاله دئے ولاشك چه پدى اعتبار دا ممتنع دئے و بتفاوت الاعتبارات يتفاوت الاحكام لان بتفاوت الاعتبارات تبني الواقعات.

**ضابطه نمبر ۲۹**: ازاله د توهم مشهوره داده چه الف الام منحصر دئے په څلورو کښي چه لام جنس و لام الاستغراق و لام العهد الذهني و لام العهد الخارجي پرد باندي مشهور اعتراض وارديږي چه حصر غلط دئے دوجهي د وجود د قسم اخر څخه چه لام الطبعيه دئے لکه په قضيه طبعيه کښي مثلاً الانسان نوع کښي جواب دادئے چه لام الطبعيه مندرج دئے په لام الجنس کښي ځکه چه لام الجنس دا معني چه حکم شوے وي پر طبعية من حيث هي هي باندي لکن جائز ده چه قيد دهي هي دا

Maktaba Tul Ishaat.com

معنـی وی چـه پـه لحـاظ د انطبـاق علـی الافـراد کـلاً ولا بعضاً نه وی یعنی قید د هی‌هی چه دلالت کوی پر ارسال او اطلاق د ارسال او اطلاق واخستل شی په نسبت سره انطباق علی الافراد و اخذ بهذا الاعتبار نه واجبه وی چه حکم دئے متعلق شی پر نفس طبعیه مرسله چه موضوع د قضیی مهملی قدمائی ده بل اوس هم احتمال لری د وجهینو یعنی من حیث هی‌هی مرسل د تمامو اعتباراتو ځخه چه موضوع د قضیی مهملی قدمائی ده و من حیث اخذه بلحاظ العموم چه موضوع د قضیی طبعیی ده ځکه چه په هی‌هی کښی ارسال په لحاظ سره کل اعتباراتو نه دئے بلکی په نظر سره اعتبارو انطباق علی الافراد ته دئے پس لام الطبعی داخل دئے په لام الجنس کښی او حصر په اربعو کښی کما قال المشهور صحیح دئے.

**ضابطه نمبر ۳۰**: محصورات ځلور دی:

۱- موجبه کلیه.

۲- موجبه جزئیه.

۳- سالبه کلیه.

۴- سالبه جزئیه.

وجه د حصرئی داده چه حکم به خالی نه وی یا به پر کل

افرادووی یا پر بعضو علی کل تقدیر یا به ایجابی وی یا
به سلبی وی که پرکلوونی ایجابی وی نو موجبه کلیه که
پرکل وی سلبی وی نوسالبه کلیه که پربعضو وی ایجابی
وی نوموجبه جزئیه که پر بعضو وی سلبی وی نو سالبه
جزئیه سورد موجبی کلیی لفظ د کل او لام الاستغراق دئے
سور د موجبی جزئی بعض او واحد دےاو سور د سالبی
کلیی لاشئ لا واحد او وقوع النکرة تحت النفی دئے او
سور د سالبی جزئی لیس کل لیس بعض بعض لیس دئے
او فرق په مابین د لیس کل او لیس بعض او بعض لیس
کښی دادئے چه لیس کل موضوع دئے دپاره د رفعی د
ایجاب کلی بمطابقة لکن سلب جزئی ورسره لازم دئے ځکه
چه رفعه د ایجاب کلی په ضمن د سلب کلی کښی هم
راځی او په ضمن د سلب جزئی کښی هم راځی لکه په
ماجاء نی کل القوم کښی وعلی کل تقدیر سلب جزئی
ورسره لازم دئے او لیس بعض او بعض لیس موضوع دئے
دپاره د سلب جزئی مطابقة او رفعه د ایجاب کلی ورسره
لازم ده ځکه کله سلب د محمول د بعض نه راغی نو
نشو محمول ثابت کل بما هوکل لره او دانه دئے مگر رفعة
د ایجاب کلی التزاماً کما هو ظاهر او فرق په مابین د
لیس بعض او بعض لیس کښی دادئے چه بعض لیس نص

Maktaba Tul Ishaat.com

دئے او مختص دئے تر سلب جزئی پوری او لیس بعض کله دپاره د سلب کلی هم راځی ځکه چه بعض نکره واقعه په سیاق النفی کښی ده پس جائز ده چه مراد پدی سره اي بعض کان شی.

**ضابطه نمبر ۳۱**: کل پردری قسمه ده:

۱- کل کلی.
۲- کل مجموعی.
۳- کل افرادی.

منعقد د اول ځخه قضیه طبعیه ده لکه کل انسان نوع شو او په منعقد د ثانی کښی اختلاف دئے فاضل لاهوری ویلئ دی چه منعقد تری شخصیه ده مطلقا لکن علامه تفتازانی ویلئ دی چه منعقد تری مهمله ده مطلقاً لکن رایه د علامه بهاری داده چه حکم کلی د جانبینو ځخه خطاء دئے ځکه چه علامه وائی والثانیة شخصیه او مهملة بلکه مضاف الیه دلفظ د کل یا به جزئی وی یا به کلی وی که جزئی وه لکه کل زید حسن شو نو دا شخصیه ده ځکه چه مجموعه اجزاء د زید ندئے مګر زید دئے او که مضاف الیه کلی وه لکه کل انسان لایسعه هذه الدار نو دا قضیه مهمله ده ځکه چه مجموع من حیث المجموع انسان اګر که منحصر دئے په شخصی کښی په خارج

کښې ځکه چه مجموع د هرشئ واحد وی احتمال د تعددنه لری بلکه تعدد په اشخاصو د مجموع کښې وی لکن بیاهم احتمال د زیادت او نقصان عندالعقل لری چه مجموع د لسو یا دیرشو یا زیات یا کم او بیان دکمیت نه دئے شوے نو شوه مهمله او منعقد د کل افرادی ځخه محصور د کلیه ده لکن معتبر په قیاساتو او علومو کښې کل افرادی نه اولین ځکه چه مقصود په علومو کښې انتاج وی او مدار د انتاج په اندارج دا صغر تحت الاکبر دئے اصغریو فرد د اکبر او ګرځی دا اندراج په کل کلی کښې نشته ځکه چه حکم ثابته للفرد ندئے ضروری چه ثابت دئے وی طبعیت بما هو طبعیت لره دارنګه دا اندارج په کل مجموعی کښې هم نشته ځکه چه حکم د مجموع کل مغائر وی د حکم د فرد ځخه لکه کل شعرة یرفع هذا الحجر. یعنی مجموع یرفع هذالحجر لکن لایقال کل شعرة شعرة یعنی کل فرد فرد یرفع هذا الحجر نو دارنګه حکم به کبری کښې صرف کل فرد فرد ته وی.

**ضابطه نمبر ۳۲**: تقسیم د لازم. لازم پر دوه قسم دئے بین او غیر بین بیاهر واحد د دوئی ځخه پردوه قسمه دئے بین بمعنی الاخص او غیر بین بمعنی الاخص بین بمعنی الاعم او غیر بین بمعنی الاعم اګر چه تعریف او مثالونه

Maktaba Tul Ishaat.com

مذکور او مشهور دی په کتابونو کښې لکن ذاتی زما
رایه داده چه غیر بین بمعنی الاخص نقیض او مقابل
صریح د بین بمعنی الاخص دئے او غیر بین بمعنی الاعم
نقیض او مقابل صریحی د بین بمعنی الاعم دے لهذا چه
د دوئی په مینځ کښې تقابل واخستل شی نو ښه به وی
پس بین بمعنی الاخص هغه وئے چه یواځی تصور د ملزوم
په کښې کافی وی لکه عمی او بصر شو او مقابل دده غیر
بین بمعنی الاخص دئے چه یواځی تصور د ملزوم پکښې نه
کافی کیږی بلکه چه د دواړو تصور وشی نو عقل جزم
باالملازمه کوی لکه اربعه او زوج شو ځکه چه عقل پس د
تصور د اربعه ؤ خخه چه موضوع دئے دپاره د مرتبې
معینې د عدد او پس د تصور د زوج ځخه چه انقسام
بمتساوین دی جزم باالملازمه کوی او بین بمعنی الاعم
دیته وائی چه د تصور د ملزوم و حدها نه کافی کیږی او
تصور د دواړو هم نه کافی کیږی بلکه لابدی به وی د
مقاسی ته د احدهما نه اخرته لکه لزوم د قابل العلم او
صنعت الکتابت شو د انسان سره او غیر بین بمعنی الاعم
دیته وائی چه تصور دواړونه کافی کیږی او مقاتسه هم نه
کافی کیږی بلکه لابدی به وی له مستقل دلیل د راوړو
ځخه لکه لزوم د حدوث د عالم سره لانه متغیر وکل

متغير حادث شو او ماچه کله دا فرق وړاندی کړو استاد محترم مولانا عبدالسلام هزاروی نورالله مرقده ته هغه ئی تصویب اوکړ و باقی والله اعلم باالصواب.

**ضابطه نمبر ۳۳**: فرق په مابین د صدق او حق او کذب او باطل کښی دادئے چاویلئ دی چه صدق او حق مترادفین دی لکن چا ویلی دی چه صدق کښی مطابقة د جانبه د حکایت څخه معتبر دئے یعنی حکایت به مطابق وی د واقع سره او په حق کښی مطابقت د جانبه د واقع څخه معتبر دئے یعنی چه واقع مطابقه واخلی د حکایت سره ځکه چه مطاپقة باب مفاعله.دئے شرکت د جانبینو څخه غواړی او چا فرق کړیدئے چه حق ستعمليږی خاصکر په عقائد وکښی ویلئ شی دا عقیده حقه ده او دا باطله ده او صدق عام دئے په عقایدو او په عامو قضایاؤ صادقه ؤ کښی مستعمليږی پس صدق عام او حق خاص شو وهکذا فرق دئے په مابین د کذب او باطل کښی.

**ضابطه نمبر ۳۴**: زده کړه دا خبره چه جزئی کل د کلی دے او کلی جز د جزئی دی اما الاول لکه زید جزئی دی او انسان کلی دی او انسان جزدی د ماهیت د زید

Maktaba Tul Ishaat.com

ځخه ځکه چه زید عبارة دئے د انسان مع هذاالتشخص ځخه نو زید کل شو او انسان جزء شو دماهیت د زید ځخه نو جزئی چه زید دئے کل شو او کلی چه انسان دئے جزء شو د ماهیت د زید ځخه پس ثابته شوه مدعی ئی ثانی همدارنګی او په دی بیان سره ثابته شو وجه د تسمیه جزئی په جزئی سره او دکلی په کلی سره ځکه چه جزئیت دجزئی کیږئ په نظر سره فوق او فوق د جزئی ځخه کلی دئے او کلی دماهیت د جزئی ځخه جزء دئے منسوب جزء ته جزئی وی او کلیت دشئ کیږی په نسبت سره تحت ته تحت دکلی ځخه جزئی دئے او حزئی کل دئے کما ثبت منسوب کل ته کلی وی ددی وجه ځخه جزئی ته جزئی کلی ته کلی وائی.

**ضابطه نمبر ۳۵**: کلیت او جزئیت چاویلی دی چه دا صفت د معلوم دئے او چاویلی دی چه داصفت د علم دئے د اول توجیه داده چه دا صفت د معلوم دئے په داسی شان سره چه کلیت خو صفت د معلوم دئے یعنی باالفعل ځکه چه معلوم مرتبه دمن حیث هی هی ده او دا مرتبه د کل ده اما جزئیة چه صفت د معلومْ ففی المال یعنی په مرتبه د قیام کښی پس دا توصیف په اعتبار د مایکون سره شو او

توجيه د ثاني داده چه جزئية خو صفت دعلم ده باالفعل و
اما الكليت چه صفت دعلم دئے فبعد تجريده عن
التشخصات او دا توجيهات بـه ځکه وی چه لازم نشی
اجتماع د نقيضين في محل واحد في زمان واحد کښی
لکن محب الله بهاری دا نقل کړيدئے په قيل قيد سره پدی
شان سره چه دئے وائی قيل من صفت المعلوم وقيل من
صفت العلم اشاره ده دی خبری ته چه دا مرضی دده نه ده
بلکه کليت صفت د معلوم دئے او جزئيت صفت د علم دئے
ځکه چه معلوم طبيعت مرسله عن التشخص دئے او دا
کلی دئے او علم طبعيت مقرون باالتشخص دئے او دا جزئے
دئے خو دا فرق مذکوره هلته دئے چه مراد د معلوم څخه
معلوم باالذات شی او که مراد د معلوم څخه معلوم
باالعرض شی چه شخص خارجی دئے نو هغه يقيناً جزئی
دئے او فرق په مابين د معلوم باالذات او معلوم باالعرض
کښی دادئے چه معلوم باالعرض ديته وائی چه په انتفاء
دده سره انتفاء د علم نه راځی او معلوم باالذات ديته
وائی چه په انتفاء دده سره انتفاء د علم راځی ځکه چه
معلوم باالذات مرتبه د مطلق ده او علم مرتبه د مقيد دده
او انتفاء د مطلق مستلزم ده انتفاء د مقيد لره.

Maktaba Tul Ishaat.com

**ضابطه نمبر ۳۶**: فرق په مابین د مطلق او مقید کښې او عام خاص کښې فرق په مابین د دوئی کښې په وجوه ثلاثو سره دئے اول دا چه مطلق مقید ذات او ذاتی وی او عام کله ذاتی وی لکه حیوان د انسان دپاره او کله عرضی وی لکه ماشی د انسان دپاره دویم فرق دادئے چه مطلق ماخوذ وی په مقید کښې تفصیلاً وحساً لکه علم په علم النور کښې په خلاف د عام څخه څکه دانه دئے موجود په خاص کښې تفصیلاً وحساً لکه حیوان شو په نظر سره انسان ته څکهٔ چه نه دئے ماخوذ په انسان کښې تفصیلاً و حساً په اعتبار د مفهوم خپل سره په شان د اخذ د علم په علم النور کښې بلکه انحلال د انسان کیږی حیوان او ناطق ته دریم فرق دادئے چه مقید حصه ده دپاره د مطلق او خاص نه ده حصه دپاره عام.

**ضابطه نمبر ۳۷**: علم حضوری اوپه علم حصولی کښې کوم یو ددوئی څخه علم حقیقی دئے چاویلی دی چه

الانکشاف او مبداء د انکشاف ته وائی نو علم حصولی کامل دئے په خپل وظیفه کښی په خلاف د علم حضوری څخه ځکه چه پدیکښی غایت انکشاف نشته. ته نه ګوری چه علم دنفس پرخپل ځان علم حضوری دئے حلانکه نفس ته پته نه لګیږی چه زه جوهریم که عرض که بسیط یم که مرکب یم مجرد یم که مادی یم ولی ځکه که دا علم حاصل وائی نو اختلاف د حکماؤ به نوائی په جوهریت او عرضیت او بساطت او ترکیب دنفس کښی په خلاف د علم حصولی څخه ځکه چه په علم حصولی کښی یقیناً معلومیږی چه دا جوهر دئے دا عرض دئے دامادی دئے او دا مجرد ددئے دا بسیط دئے دا مرکب دئے نو شوعلم حصولی علم حقیقی۔

**ضابطه نمبر۳۸**: مدار د کلیت او جزئیت په هذیت دئے پس کوم شئے چه مفهومئے مشتمل وی پر هذا او هذیت باندی نو دا جزئی دئے او چه نه وی مشتمل نو دا کلی دئے پس د زید مفهوم مشتمل دئے پرهذیت نو دا جزئی دئے او دانسان مفهوم نه دئے مشتمل پر هذیة نو دا کلی دئے پس دهغه څخه کلی د وجهی دعدم اشتمال څخه پرهذیت عقل انقباظ نه کوی د صدق دده څخه پر کثیرینو باندی

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی وجهـی څخـه دکلـی تعریـف دا کـوی مــاجَوّزَ العقـل تکثـرة فـی الخـارج او د.جزئـی تعریـف دا کـوی مـالا یجـوز العقـل تکثـره فـی الخـارج بیابـه کلـی لـره په خـارج کښـی افـرادوی یا بـه نـه وی کـه نـه وو لکـه عنقاء شـو یـا کلیـات فرضیه شوه لکه لاشئ لا وجود لا امکان شو ځکه چه مـدار د کلیـة پـر نفـس تجـویز د تکثـر دئے نـه پـر تکثـر خـارجی باالفعـل او دا مـذکوران دوجهـی د عـدم اشـتمال ددوئـی څخـه پرهذیـة عقـل انقبـاض نـه کـوی دصـدق د دوئـی څخـه پرکثیرین فی الخارج باندی بلکـه امتنـاع دصـدق دوجهـی د براهینو خارجیو څخه ده مثلاً په خارج کښـی اشـیاء ولـره شی وجود امکان ورغلیٔ دئے نو که لاشئ لا امکـان لاوجـود ورلره ورشی نو لازم به شی اجتمـاع النقیضـین او کـه کلـی لره افرادوی نو بیا به خالی نه وی یا بـه فـرد واحـد وی یابـه افراد کثیره وی که فرد واحد وو نـو بیـا بـه خـالی نـه وی یـا به سره د امتناع د افرادو اخروی لکه واجب الوجود شو چـه منحصر دئے په خارج کښی په فرد واحد کښـی پـه نظـر سـره ادله قـاطعو د توحیـد تـه یـا بـه سـره د امکـان د افـرادو اخـر وی لکه شـمس شو اوکه پـه خـارج کښـی افـراد کثیـر وونـو بیـا بـه خـالی نـه وی یـا بـه متنـاهی وی لکـه کواکـب سـبعه

سیاره یابه غیر متناه وی په معنی دلاتقف عند حد سره لکه افراد د انسان شو.

**ضابطه نمبر ۳۹**: فرض ممتنع بالترکیب التوصیفی وفرض ممتنع باالترکیب الاضافی مثلاً عقل تجویز د صدق په کلیات فرضیه ؤ کښې کوی حالانکے یو فردهم ورلره نشته او په زید کښې نکوی حالانکی یو فرد ورلره شته ځکه چه اول د قبیلی د فرض ممتنع څخه دئے یعنی ترکیب اضافی دئے او ثانی د قبیلی د فرض ممتنع څخه دئے یعنی ترکیب توصیفی دئے او فرض ممتنع کښې یعنی ترکیب توصیفی کښې مفروض مثلاً کون د زید صادق پرکثیرینو محال دئے ځکه چه مشتمل پرهذیت دئے او فرض ئی هم محال دئے ځکه چه کلی به شی وقد کان جزئیا او فرض ممتنع یعنی ترکیب اضافی مفروض مثلاً کون دکلیاتو فرضیه ؤ صادق پر کثیرینو محال دئے ځکه چه په خارج کښې نقائضو احاطه کړیده لکن فرض ئی جائز دئ ځکه چه استحاله تری نه لازمیږی ځکه چه کلیات فرضیه مخکی هم کلیات وو او پس دفرض څخه هم کلیات دی یعنی فرض ممتنع ترکیب توصیفی کښې مفروض او

Maktaba Tul Ishaat.com

فرض دواړه محال دی. او فرض ممتنع ترکيب اضافی کښې مفروض محال او فرض جائز دئے.

**ضابطه نمبر ٤٠:** خلور قاعدی استثنا د عين مقدم نتيجه به عين تالی وی لکه د ورځی او وائی چه ان کانت الشمس طالعة فالنهار موجود لکن الشمس طالعة فالنهار موجود او استثناء د نقيض د مقدم نتيجه به نقيض د تالی وی لکه دشپی او وائی ان کانت الشمس طالعة فالنهار موجود لکن الشمس ليس بطالعة فالنهار ليس بموجود او استثناء دعين تالی نتيجه به عين مقدم وی لکه د ورځی اووائی چه ان کانت الشمس طالعة فالنهار موجود لکن النهار موجود فالشمس طالعة او استثناء د نقيض د تالی نتيجه به نقيض د مقدم راځی لکه دا شپی او وائی ان کانت الشمس طالعة فالنهار موجود لکن النهار ليس بموجود فالشمس ليست بطالعة لکن ملازمه ثانی چه استثناء د نقيض دمقدم مستلزم شی نقيض دتالی لره د ابناء ده پر تخصيص د مقدم يعنی کله چه مقدم عام وی ځکه چه رفعه د عام مستلزم ده د فعل دخاص لره لکه ان کان هذا حيوان کان انسان لکن ليس بحيوان فليس بانسان لکن کله چه مقدم خاص وی

نودا استلزام نشته لکه ان کان هذا انسان فکان حیوان
لکن لیس بانسان فلیس بحیوان ځکه چه رفعه د خاص نه
ده مستلزم رفعی د عام لره او دا تخصیص داسی لکه
محب الله بهاری وائی چه نقیضا المتساویین متساویان
لکن اعتراض واردیږی چه دا قاعده متصور ده په انسان
او ناطق کښی ځکه چه په انسان او ناطق کښی مساواة
دی منعقد تری موجبتین کلیتین دی د جانبینو څخه او په
نقیضینو کښی چه لا انسان او لا ناطق دئے هم مساواة دئے
منعقد تری موجبتین کلیتین دئی د جانبینو څخه دا
قاعده نه جاری کیږی په نقائضو دمفهوماتو شاملو ؤ
کښی لکه شی او ممکن شو ځکه چه دوے کښی مساواة
دئے ویلئ شی کل شئ ممکن و باالعکس لکن نه شی
ویلئ چه کل لاشی لاممکن یعنی نقیضینو کښی انعقاد د
موجبی کلی نشته ځکه چه ربط ایجابی وجود د موضوع
غواړی په خارج کښی او دلاشئ مصداق نشته نو قاعده
خرابه شوه چه و نقیضاالتساویین متساویان محب الله
بهاری جواب وکړو په دی عبارة سره فلاجواب الا
بتخصیص الدعوی یعنی دا قاعده په غیر دنقائضو
د مفهوماتو شاملوؤ کښی ده دا رنګه قاعده ثانی بناء د
پر تخصیص باندی یعنی دا هلته ده چه مقدم عام وی

خاص بلکښی د نیا هیڅ قاعده پر کلیة نه ده پاته.

**ضابطه نمبر ٤١**: صدق او کذب د حملیاتو او دشرطیاتو مدار د صدق او دکذب د حملیه پر مطابقة لا مطابقة دئے د خپل محکی‌عنه سره خواکه دا محکی عنه په خارج کښی وی لکه په خارجیاتو کښی یاپه ذهن کښی وی لکه په ذهنیاتو لکه په قضایاؤ طبعیه ؤ کښی او مدار د صدق او دکذب د شرطیاتو پرعلاقه اتصالی ده په مابین د مقدم او تالی کښی او دا علاقه مفسره ده پدی سره چه یا به مقدم علت دتالی وی لکه ان کان الشمس طالعة الخ. یا تالی علت د مقدم وی لکه ان کان النهار موجود فالشمس طالعة یا دواړه معلولین د علت ثالث وی لکه انکان النهار موجود فالارض مضیئة چه دواړه معلولین د طلوع الشمس دی یا ذات ذاتی وی لکه انکان هذا انسان فکان ناطقاً یا علاقه دلزوم وی لکه ان کان زوجاً فکان منقسماً بمتساویین وغیر ذلك یعنی مدار د صدق او د کذب دشرطیاتو پر ترتب او عدم صحت دترتب دتالی دئے پرمقدم باندی پس دهغه څخه حملیه پر دوه قسم ده: حملیه مرسله د قیوداتو څخه لکد زید قائم آکل شارب وغیر ذالك یوه حمله مقیده ده په قید چه په

دغه قيد کښې حکايت د خارج او واقعه وي لکه زيد قائم في ظني و اعتقادي پس دا حمليه نه کاذبېږي په انتفاء د قيام سره په خارج کښې ځکه چه محکي عنه ددې قضيې خارج ندئے بلکې ظن او اعتقاد دي نو هلته به کاذبه شي چه ظن او اعتقاد دديکښې قائم نه وي په خارج کښې ځکه چه محکي عنه ئې ظن او اعتقاد دئے په خلاف د حملياتو مرسله ؤ څخه ځکه چه مدار دصدق او کذب ئې د خارج سره دئے ځکه چه خارج ئې محکي عنه دئے پس دهغه څخه شرطيه پر دوه قسمه ده متصله او منفصله بيا منفصل پردرې قسمه ده منفصله حقيقيه او منفصله مانعة الجمع منفصله مانعة الخلو حقيقيه هغه ده چه جمع او ارتفاع پکښې د دواړو نسبتو منعه وي لکه هذالعدد اما ان يکون زوجاً او فرداً پس زوج او فرد دوجهي دکون ددوئي څخه نقيض يا په طرفينو د نقيضينو کښې اجتماع ئې هم منعه ده او ارتفاع ئې هم منعه ده چه عدد وي نه د زوج وي او نه د فرد وي او مانعة الجمع لکه هذالشئ اما ان يکون شجراً او حجراً پس کون دشي واحد شجر او حجرمنعه دئے لکن جائزه دئے چه شئ واحد دي نه شجر وي او نه حجروي لکه کتاب شو او مانعة الخلوی لکه زيد اما في البحر او اما ان لايغرق ځکه چه جمع ئې جائزه ده

Maktaba Tul Ishaat.com

چه فی البحر دئے وی لایغرق دی وی لکه کشتئے کښی لکن ارتفاع ئی منعه دئے چه لافی البحر دئے وی او غرق د وی بلکه هغه ته خسف وائی.

**ضابطه نمبر ٤٢**: حکم په شرطیاتو کښی مناطقه او اهل عربیه متفق دی چه په سبب دراوړلو اودا داتود شرط او جزاء سره حکم په اطرافو د شرطیه کښی نشته لکن اختلاف په دی کښی دئے چه حکم په کوم ځائی کښی دی پس مناطقه وائی چه حکم په مابین د مقدم او تالی کښی دئے پس ترجمه په نزد مناطقه ؤ داده چه طلوع الشمس ملزوم لوجود النهار او اهل عربیه وائی چه حکم په جزاء کښی دئے او شرط قید دئے دپاره د مسند فی التالی دئے پر منزله دحال یا د ظرف پس په نزد د اهل عربیه و ترجمه داده النهار موجود حال کون الشمس طالعة یا وقت وجودالنهار لکن اعتراض واردیږی په اهل عربیه ؤ باندی چه لازمیږی کذب د شرطیی مقطوعة الصدق ستاسو په نزد مثلاً دا قضیه ان کان زید حماراً کان ناهقاً دا مقطوع الصدق ده ځکه چه ذات ذاتی دئے لکن پر مذهب داهل عربیه ؤ به حاصل داشی چه زید ناهق وقت حماریته او دا حمیله مقیده ده پدی کښی مطلق کاذب دئے او انتفاء د مطلق مستلزمه ده انتفاء د مقید لره نومقید کاذب شو او

دا مقید تغیر دشرطیی دئے په رائی د اهل عربیه ؤ نو شرطیه کاذبه شو حالانکه صادقة ده اتفاقاً لکن جواب تری شوئی دئے چه مطلق ندئ کاذبه ځکه چه ماخوذ دی علی وجه الاعم چه خواه په نفس الامر کښی ېږی او که په عالم التقدیر او فرض کښی وی په ناهقیت اګرکه ندئے ثابت زید لره په نفس الامر کښی لکن ثابت ورلره په وفت د فرض ددیکے حمار پس مطلق ندئے کاذب بلکه فرد د مطلق کاذب دئے او انتفاء د خاص نده مستلزم انتفاء دعام لره لکن مخدوش دئے اګر که مجاب دئے دا رنګه اعتراض واردیږی پر مذهب داهل عربیه ؤ باندی چه لازمیږی پرتاسو اجتماع د نقیضینو په هغه ځائی کښی چه مقدم ملزوم دنقیضینو وی لکه کلما لم یکن شئ من الاشیاء ثابتً فزید قائم وزید لیس بقائم او دا قضیه صادقه هم ده ځکه چه مقدم محال دئے او استلزام د مقدم محال لپاره د نقیض او نقیضینو کیدا یشی لکن که مذهب داهل عربیه ؤ واخلو نو حاصل به داشی زید قائم وقت عدم الثبوت الشئ وزید لیس بقائم وقت عدم الثبوت الشئ او داندئے مګر اجتماع د نقیضینو ده او په رائی د مناطقاؤ به حاصل داشی کلما لم یکن شئ من الاشیاء ثابتاً فزید قائم وکلما لم یکن الشئ من الاشیاء ثابتاً فزید لیس بقائم پس دادوه متصلی شوئی او یوه متصله

Maktaba Tul Ishaat.com

نقیض د بلی متصلی نه وئی ځکه چه نقیض د اتصال رفعه د اتصال دئے نه اتصال اخر پس دوه متصلی راغلیٔ غاية مافی الباب تالیین متنافیین دی پس نه لازمیږی پر مناطقه ؤ اجتماع دنقیضینو پس مذهب المنطقین هوالحق.

**ضابطه نمبر٤٣**: مشکوك قضیه ده اوکه نه ده چاویلی دی چه دا قضیه نده او چاویلی دی چه داقضیه ده لکن حقه داده چه حکم کلی د جانبینو څخه علی الاطلاق باطل دئے بلکه حقه محاکمه ده بحیث که تفسیر د قضیی وشی به مثال لقائله انه صادق او کاذب سره نو مشکوك نه ده [illegible] ځکه چه نه شی ویلیٔ شاك ته چه انه صادق او کاذب ځکه ویلی شی انه متردد اوکه تفسیر د قضیی وشی به انه یحتمل الصدق والکذب سره نوحق داده چه مشکوك قضیه ده ځکه چه احتمال لری په نظر سره مخاطب ته دصدق هم او دکذب هم.

**ضابطه نمبر ٤٤**: جنس په نظر سره فصل ته او فصل په نظر سره جنس ته جنس په نظر سره فصل ته لکه حیوان په نظر سره ناطق ته عرض عام دئے او فصل په نظر سره جنس ته لکه ناطق په نظر سره حیوان ته خاصه ده اګر که خاصه غیر شامله ده ځکه چه نده موجود په جمیع افراد و دحیوان کښی.

**ضــــابطه نمبـــــر ٤٥**: اجـزاء د قضـيې پـه نـزد د محقيقينو درې دي كما قال محب الله بهاري و القضية انما تتم بامور ثلاثه ثالثها نسبة اخبارية حاكية او متاخرين وائي چه اجزاء څلور دي باعث په تربيع باندې پـر دوئـې دادئـې چـه هركلـه دوئـې وليـده چـه بعضـې د اقسامو د تصور څخه لكه شك وهم تخيل او انكار شو داهم متعلق كيږي په نسبت پورې او نسبت تام خبرى خو متعلق بها دا اذعان دئې نوكه دوئې ور پورې هم متعلق شي نو لازم به شي كون دشئ واحد هم مشكوك هم مذعن هم متخيل هم مذعن او دا باطل دئې ځكه چه دامـن اقسـام تصـور دئې نو لازم بـه شـې اجتمـاع د متقابلينو په محل واحد كښې نو مجبوراً دوئې قول او كړه په يوبل نسبت په قضيه كښې چه نسبت تقيدى دئې او بيائې قول وكړو په وقول وكړو په توضيع باندې چه نسـبت تـام خبـرى متعلـق بهـا د اذعـان دئې او نسـبت تقيـدى متعلـق بهـا دشـك او وهـم تخيـل او انكـار دئې دپاره ددى چه لازم نشـې اجتمـاع د متقـابلينو پـه محـل واحـد كښې لكـن محقيقـين وائـې چـه دايـو نسـبت تـام خبـرى صـلوح د تعلق د اذعـان او د شـك او وهـم لـرى

Maktaba Tul Ishaat.com

بحیث چه العالم حادث متعلق بها دشك دی قبل اقامت البرهان او متعلق بها د اذعان دے بعد اقامة البرهان نو مشکوك دئ په یووخت کښی او مذعن دئے په بل وخت کښی فماهو باطل وهوالاجتماع فی وخت واحد فلیس بلازم وماهولازم وهو الاجتماع فی وقتین فلیس بباطل.

**ضابطه نمبر ٤٦**: حمل د وصف پرذات باطل دئ یا خوله دی وجه څخه چه محمول په حمل متعارف کښی لابدی ده چه په مرتبه د لابشرط شئ کښی وی یعنی مرتبه دمن حیث هی‌هی دپاره ددی چه متحقق شئ پکښی امران چه مغائرت من وجه او اتحاد من وجه دئے لکه چه دا مدار الحمل دئے او مبادی او مصادر کل په مرتبه د بشرط لاشئ کښی دئ یعنی لایتصور فیه الامران چه اتحاد من وجه او تغائر من وجه دئ فانتفی فیها مدار الحمل نو فانتفی الحمد یا اسان دلیل دا دئے چه لازمیږی اجتماع النقیضین ځکه چه ذات په نفس الامر کښی پرد محمول دئے چه انه لیس بوصف نوکه وصف پری حمل شی نو لازم به شی اجتماع د نقیضینو او اجتماع النقضین باطل دئے نو حمل دصرف

وصف پر ذات هم باطل دئے.

**ضابطه نمبر ٤٨:** فرق په مابین دهلی بسیطی او هل مرکبه کښې دادئے چه بسیطه هغه ته وائی چه محمول پکښې وجود او عدم وئے لکه زید موجود او معدوم شو او مرکبه دئے ته وائی چه محمول پکښې غیر دوجود او د عدم څخه وی لکه الانسان کاتب شو پس وجه د تسمية د احدهما په بسیطه سره او د بل په مرکبه سره داده چه په رای د بعضو چه په هغه کښې سید شریف هم شامل دی مدار د تسمية درجة دحکایت ده یعنی په بسیطه کښې په درجة د حکایت کښې نسبت تام خبری نشته او په مرکبه کښې شته او دلیل دادئے چه محمول پدی کښې وجود او عدم دئے او وجود مربوط بنفسها دئے نو حاجت پاتی نشو رابطه اخرته او د وهم دلیل دادئے او چه ترجمه ئی وکړو نو ترجمه ئی داده چه زید هست پسی رابط پکښې نه ظاهریږی او په ترجمه د زید کاتب کښې ظاهریږی لکه زید نویسنده هست او بعضی وائی چه فرق په بسیط، او مرکبه کښې داده چه اجزاء ثلاثة خوپه دواړو کښې دئے یعنی موضوع محمول او نسبت تمام خبری خو په مرکبه کښې یو بل نسبت

دئے چه هغه عبارت دئے د وجود د رابط چه متضمن دئے
ورلره احد الطرفين باالفعل لکه دا مذهب د باقر داماد
دئے يا باالقوة لکه دا مذهب دصدر شيرازی دئے او
تفسيرئی دادئے چه نسبت وکړيشی د وجود اولاً موضوع
ته او بياوګرځولی شی مجموع موضوع بيا ثبوت د
محمول ده لره وشی يا نسبت وکړئی شی دوجود اولاً
محمول ته بياوګرځولئ شی مجموع محمول بيائی
ثبوت موضوع لره وشی نو ترجمه د الجسم ابيض په
تفسير اول سره وجود الجسم علی صفة البياض او په
تفسير ثانی سره وجود البياض للجسم او ددوی پر
مذهب هم مدار د فرق درجه دحکايت ده لکن مسلك
تحقيق دادئ چه فرق داسی ندئے لکه سيد شريف وغيره
وائی چه په بسيطه کښی درجه د حکايت کښی نسبت
تام خبری نشته والا فلم تکن البسيطة قضية لکن
التالی باطل وجد الملازمة لان مدار القضية علی
الافادة ومدار الافادة علی الحکايت ومدار الحکايت
علی النسبة فمتی انتفی النسبة انتفی الحکايت ومتی
انتفی الحکايت انتفی الافادة و متی انتفی الافادة
انتفی کونه قضية لکن التالی باطل فلان القائل
معترف بکونها قضية همدارنګه لازميږی خرق الاجماع

ځکه چه اجماع منعقده ده پر تقسیم د قضیې بسیطې
ته او مرکبې ته یاداسې وو چه لازمیږي تقسیم د شئ
الی نفسه والی غیره باقي دا خبره چه محمول پکښې
وجود او عدم دئے او دا مربوط بنفسها دئے نو تا فرق
ندئے کړے په مابین دوجود د محمول کښې او د وجود
رابطي کښې یعنې مربوط بنفسها وجود رابطي دئے
لکه په الانسان کاتب کښې چه وجود الکتابة للانسان
دئے د اوجود مربوط بنفسها دئے ځکه چه تسلسل راځي
او وجود په زید موجود کښې دا وجود محمولي دئے فهو
محمول کسائر المحمولات نو لکه عام محمول مربوط
وی د موضوع خپلو سره په اعتبار د رابط سره نو دا
وجود به هم محمول وی د خپلې موضوع سره په اعتبار
د رابطه دارنګه داخبره چه ترجمه کښې نه ظاهریږي نو
دا استدلال فاسد دئے ځکه چه کلام په فنونو لطیفه و
عقلیه ؤ کښې دئ او اثبات د فنونو لطیفه ؤ عقلیه په
لغت ندئے مناسب او یا وایم چه نسبت پکښې شته خو نه
ظاهریږي دوجه د تکرار ځخه دارنګه مونږ وایو په
رد کښې پر باقر او معاصر د محقق دوانی چه صدر
شیرازی دئے چه وجو. رابطي چه متضمن دئے ورلره احد
الطرفین یا باالفعل یا باالقوة داهم باطل دئے والا لفهم

عند اطلاق القضية لكن التالی باطل فاالمقدم مثله وجه الملازمه لان اجزاء الشئ يفهم عند اطلاق الشئ كما فی الموضوع والمحمول و النسبة پس حقه داده چه مدار ده فرق او د تسميی په اعتبار دمحكی عنه سره دئے يعنی محكی عنه ده الانسان كاتب مركبه ده او محكی عنه دزيد موجود بسيطه ده او كه څوك او وائی چه محكی عنه د زيد كاتب كتابت د زيد دئے او محكی عنه د زيد موجود وجود د زيد دئے پس په ظاهره په دواړو كبنی تعدد دئے مونږ جواب كوو چه په ظاهره كبنی په وجود زيد كبنی تعدد شته او په واقع كبنی نشته ځكه چه په انتفاء د وجود سره انتفاء د زيد راځی نو ګويا كبنی تعدد نشته او په انتفاء د كتابت سره انتفاء د زيد نه راځی نوګويا كه تعدد شته پس مدار د فرق درجه د محكی عنه شو.

**ضابطه نمبر ٤٩**: فرق په مابين د معدولة المحمول سالبه بسيطه او موجبه سالبة المحمول كبنی فرق دادئے چه معدولة المحمول بو خواكه او دانوری دواړی بل خواكه نو فرق دادئے چه په معدولة المحمول كبنی لكه زيد لا قائم كبنی حرف سلب جزء د محمول

گرځيدلئ دئے او خپله وظيفه ئې پريښې ده چه رفعه د نسبت ده ددې وجهې څخه تمامې قضيې ته معدوله الحمول وائې مجازاً تسمية الكل باسم الجزء او ترجمه ئې داده چه زيد لاقائم دئے او په آخر و دواړو کښې حرف سلب وارد پرنسبت دې بيا په آخر دواړو کښې فرق دئ لفظاً او معناً لفظاً دادئې چه په سالبه بسيطه کښې به يو رابط وې او دليس څخه به وروسته وې او په موجبه سالبة المحمول کښې به دوه رابطه وې يو دليس څخه مخکې او بل وروسته نو سالبه بسيطه کښې به وايو زيد ليس هو به قائم او په موجبه سالبة المحمول کښې به وايو زيد هو ليس هو بقائم او معناً فرق ئې دادئے چه په ترجمه د بسيطې کښې به وايو چه زيد قائم نـدئے او په ترجمه د موجبې سالبة المحمول کښې به وايو چه زيد قائم ندئے دا به بيا په رابطۂ مقدم سره ثابت شې موضوع ته ددې وجهې څخه ديته سلب ثابت هم وائې پاتې شوه دا خبره چه دا قضيه پررائې د محققينو ثابته ده او که نور بحث غواړې هغه موجود دې په مطولاتو کښې فعليك التفتيش.

Maktaba Tul Ishaat.com

**ضابطه نمبر ۵۰**: مراتب مجعول فرق په مابين د محل عرض عرضی کښې تقسيم د کل اجزاء ذهنيه وته او تقسيم د کل اجزاء خارجيه وته مراتب د مجعول پنځه دی مرتبة د التخمين مرتبة الامکان مرتبة الذات و الذاتی مرتبة الجعل و لتقرر. مرتبة الوجود بعد دهغه څخه مرتبه د عوارضو متاخره ؤ عن الوجود ده فرق په مابين د محل او عرض او عرضو کښې دادئ چه پررائی دجمهور تغائر ذاتی دئ اما المحل او عرضی کښی دادئے چه محل جزء دی او عرضی په معنی د ذات متصفه بالصفة دا کل دئ يا دا چه کله موجود وی او حمل د مشتق پری نه کيږی دوجهی د عدم قيام د مبدی څخه پدی پوری حالاً دارنګه محل او عرض کښی هم تغائر باالذات دئ ځکه چه عرض قد يزول و يبقی المحل فارغاً اودارنګه عرضی او عرض کښی ځکه چه عرضی کل دئے او عرض بمعنی مبداء دا جزء دئ او کل او جزء کښی مغائرت باالذات وئ او پر رائ دمحقق دوانی تغائر اعتباری دئ دئ وانی چه طبعية العرض چه ماخوذ شی په مرتبه دلابشرط شئ يعنی ابيض چه واخلی په مرتبه د من حيث هو هو کښی قطع نظر د مقارنت دموضوع او عدم مقارنت د موضوع

کښې نو دا عرضي دئ مشتق دئ او محمول مواطاة
دئ او چه واخستل شي په شرط د مقارنت د موضوع نو
دا عين محل دئ او حمل ئې کيږي پرمحل باندې
مواطاة دوجهې د اتحاد څخه د محل سره پس ويلی شی
الثوب الابيض ابيض او کله چه واخستل شي په مرتبه
دبشرط لاشئ کښې نو دا عرض دی مبدأ ده محمول
اشتقاقاً دئ. پس دهغه څخه مونږ وايو چه په مشتقاتو
کښې مذاهب ثلاثه دي پر رای د جمهور مرکب دئ د
ذات اوصفت او نسبت څخه نو معنى د ابيض ذات له
البياض او ناطق ذات له النطق او پررای دسيد شريف
هم مرکب دئ خود صفت او نسبت څخه نو معنى د
ابيض له البياض او د ناطق له النطق او پر رای د محب
الله بهاری مشتقاة بسائط دی دلالت پر موصوف نه
کوی نه عاماً او نه خاصاً پرعام ولی دلالت نه کوی
ځکه که دلالت وکړی نو معنی دناطق به داسی شی له
النطق نو لازم بشی دخول دعرض په فصل کښې اوکه
پرموصوف خاص باندې دلالت وکړی نو معنى د
ضاحك په داسی شی الانسان له النطق نو انقلاب به
راشی ځکه چه حمل دضاحك اول پر انسان ممکن
ووځکه چه ضحك دعوارضو د انسان څخه دئ او اوس
به واجب شي ځکه چه ثبوت دشي خپل نفس ته ضروری

Maktaba Tul Ishaat.com

او واجب دئ نو مشتق پر موصوف باندی دلالت بالکل نه کوی او دلالت پرنسبت هم نه کوی کماقال سیدشریف بلکه معنی د مشتق القدر الناعت یعنی معنی ئی فقط صفت دئ لکه معنی دعرض فقط صفت ځکه چه ترجمه دبیاض او ابیض یوه ده چه سفید دی نو شومشتقاة بسیط پر رای د محب الله بهاری فرق د تقسیم د کل اجزاء ذهنیؤ ته او د تقسیم د کل اجزاء خارجیه ؤ ته دادئ چه اجزاء ذهنیه هغه دئ چه متحدوی دکل سره جعلاً وجوداً وتقرراً او حمل کیږی احدهما پر اخر او پرکل باندی لکه حیوان ناطق شو په نظر سره انسان ته او اجزاء خارجیه دیته وائی چه نه وی متحد جعلاً وجوداً تقرراً او نه حمل کیږی احدهما پر اخر او نه پر کل لکه خل= عسل= ماء شو په نظر سره سکنجبین ته والله اعلم بالصواب.

راقم حقیر الناس حزب الله قندهاری عفی عنه

من افادات شیخ القرآن والحدیث قاضی محمد امین صاحب مد ظله العالی.

ناشر مکتة القرآن و السنة

زیر اهتمام میر کمال الدین حقانی

موبایل: 0300-5866001

**ضابطه نمبر ۵۱**: فرق په مابین د نقیض او دعکس نقیض کښې قانون دادی چه صدق د احد النقیضین مستلزم دئ کذب د اخر لره لامحالة والا فیلزم الاجتماع وهو باطل او قانون په عکس کښې دادئ چه اصل صادق وی نوعکس به ئې هم صادق وی ځکه چه عکس لازم دئ د اصلی قضیې سره لکه کل انسان حیوان تنعکس الی بعض الحیوان انسان ته او دا ورسره لازم دئ او صدق د ملزوم مستلزم صدق دلازم لره ځکه چه لازم یا مساوی د ملزوم سره او یا اعم وئ او صدق د مساوی مستلزم دئ صدق د مساوی اخر لره دارنګه صدق. داخص مستلزم دئ صدق داعم لره.

الجامع للضوابط حقیر الناس حزب الله
قندهاری عفی عنه
من افادات جامع المعقول و المنقول
قاضی محمد امین.
صاحب مد ظله العالی
زیر اهتمام میر کمال الدین حقانی
موبایل: 0300-5866001

Maktaba Tul Ishaat.com

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**ضابطه نمبر ۱**: پوشه پدی سره چه نتیجه تابع وی دپاره د اخس ارزل ولی ځکه چه نتیجه پردوه قسمه ده یوه موجبه او بله سالبه او قیاس هم پر دوه قسمه دی ولی ځکه چه یا به مرکب وی له موجبیتنو څخه او یا به مرکب وی د سالبی او د موجبی څخه او موجبه اشرف ده تر سالبی ولی ځکه چه په موجبه کښی حکم شوے وی په ثبوت د محمول موضوع لره او په سالبه کښی حکم شوے په سلب د محمول د موضوع څخه او حکم په ثبوت د محمول موضوع لره اشرف دی تر حکم په سلب د محمول د موضوع څخه ولی ځکه چه حکم په ثبوت د محمول موضوع لره امری وجودی دی او حکم په سلب د محمول دموضوع څخه امری عدمی دئ او وجود اشرف وی تر عدم او کلیة اشرفه ده تر جزئیت ولی ځکه په کلیه کښی حکم شوے په ثبوت د محمول جمیع افردو د موضوع لره او په جزئیه کښی حکم شوے وی په ثبوت د بعض افرادو د محمول موضوع لره او حکم په ثبوت د محمول جمیع افرادو د موضوع لره اشرف وی تر حکم په ثبوت دبعض

افرادو د محمول موضوع لره نو اوس که چیري نتیجه تابع دپاره د اشرف المقدمتین شي نو شی به ارزل المقدمتین متروك باالكليه ځکه چه ارزل المقدمتین متروك شوئے ده من حیث شرافت نو که متروکه شی من حیث الانتاج نو پاته به شي قیاس پر مقدمه واحده او پاتي کیدل د قیاس پر مقدمه واحده باندی باطل دئے ولی ځکه چه قیاس مرکب وی ده مقدمتینو څخه.

**ضابطه نمبر۲**: اوس راشه نفی چه پرنفی داخل شي ولی اثبات فائده کوی ځکه چه نفی واضع وضع کړیده ددی دپاره چه پرکوم شئ داخله شی هغه شئ به دمینځه وړی که پرذات داخله شی ذات به وړی لکه لارجل فی الدار او که پر وصف داخله شی وصف به وړی لکه لیس زید قائم نو کله چه پر نفی داخله شی عمل به ورکوی که عمل ورنکړی خلاف د وضع د واضع راځی نو کله چه ته عمل ورکړی نو کله چه ته نفی پر نفی داخله کړی نو نفی د ځان سره وړی ولی ځکه چه ماسوی د نفی بله معنی نشته اودنفی تقاضا خپل عمل دئے او خپل عمل ترسره کوی نو چه نفی نفی یوړل اثبات به خامخا راځی ولی که اثبات رانشی نو ارتفاع د نقیضینو راځی چه نفی او اثبات دئے او ارتفاع د نقیضینو باطله ده نو

Maktaba Tul Ishaat.com

ځکه اثبات فائده کوی.

**ضابطه نمبر ۳**: ضمیر چه کله دائر شی په مابین دمرجع او دخبر کښې نو رعایت د خبر اولی دئ ولی ځکه چه اتحاد دضمیر او د مرجع په مابین کښې په یوه شئ کښې وی. چه هغه مصداق دئ او اتحاد د ضمیر او دخبر په دوئی شیانو کښې وی چه هغه یو مصداق دئ او بل وقوع د دوئی دو وده په کلام واحد کښې نو رعایت دهغه شیانو چه متحد وی په دوو شیانو کښې اولی، دئ تر رعایت دهغه شیانو چه متحدوی په شئ واحد کښې.

**ضابطه نمبر ٤**: معترض اعتراض کوی چه الف لام په الکلمة کښې کوم الف لام دئ یوهم نه صحیح کیږی ولی ځکه چه که الف لام دپاره دجنس شی نو الف لام جنسی کښې اشاره ماهیة ته وی چه پدیکښې لحاظ د وحدت او دکثرت نه وی نو دی اباء د وحدت نه کوی او اباء د کثرت نه کوی نو په الکلمة کښې تاء و تانیث دپاره د وحدت ده اوس که ته تا ورتیل وهی نو الف لام جنسی خو اباء نه کوی ولی ځکه چه پدیکښې لحاظ د تعین دوحدت او لحاظ دتعین دکثرت نه وی نو لکه څنګه چه تا د وحدت ورتیل وهلئ شی د بلی خوادی اباء دکثرت نه

هم نه کوی نو کله چه ته کثرت ورتیل وهی نو رابه شی اجتماع د متناقضینو او د متضادینو او دا اجتماع ناروا او باطله ده او که الف لام استغراقی شی هم نه صحیح کیږی ولی ځکه که الف لام استغراقی شی لازم به شی دوه استحالتین اوله استحاله داده چه الف لام استغراقی کښی اشاره وی ماهیة ته هغه ماهیة بیا اخیستل شو یوځ په ضمن د جمیع افرادو کښی دا جمیع افراد معنی دجمع او جمعیت ده او تاء په الکلمة کښی دپاره د وحدت ده او معنی د جمع او دوحدت سره منافی ده نو لازم شوه اجتماع د متنافیتینو په لفظ واحد کښی چه کلمه ده دوهمه استحاله داده لازم به شی تعریف دپاره د افرادو معنی به دارنګه شی چه هرفرد د افرادو دکلمی لفظ وضع الخ. او تعریف دپاره د افرادو باطل دیٔ ځکه افراد غیر منضبط وی او شرط په تعریف کښی منضبط والی دیٔ نو تعریف د ماهیت به په ماهیة سره وی نه ده افرادو په افردو سره اوکه الف لام عهد خارجی شی هم باطل دیٔ ولی ځکه که الف لام عهد خارجی لازم به شی بیا استحالتین اوله استحاله داده چه الف لام عهد خارجی کښی اشاره ماهیة ته وی هغه ماهیة بیا اخیستل شوی وی په ضمن دیو فرد معهود کښی هغه یوفرد بیا معلوم وی متکلم او مخاطب

Maktaba Tul Ishaat.com

دوا ړوته او دلته داسې فرد معهود دکلمې نشته مذکور او معهود چې مونږ هغه ته اشاره وکړو ولې ځکه چه الکلمة سر د بحث دئ مذکور څه شي نشته دويمه استحاله داده چه لازم به شي تعريف د فرد او تعريف د فرد باطل دئ اوکه داده چه لازم به شي تعريف د فرد او تعريف د فرد باطل دئ او که الف لام عهد ذهني شي لازم به شي استحالتين اوله استحاله داده چه الف لام عهد ذهني کښې اشاره وي ماهية ته هغه ماهية اخيستل شوي په ضمن ديوفرد کښې هغه يو فرد بيا معلوم وي متکلم ته نه مخاطب ته نو مدخول د الف لام عهد ذهني وي په قوة دنکرې کښې نو لازميږي تنکير د مبتداء او تنکير د مبتداء باطل دئ ولې ځکه چه شرط په مبتداء کښې دادئ يا به معرفه وي يا به نکره مخصصه وي دويمه استحاله داده چه تعريف دپاره د فرد راځي او تعريف دفرد باطل دئ اوس زده کړه داخبره چه مدخول د الف لام عهد ذهني ولې په قوة دنکره کښې دئ او نه عين معرفه ده او نه عين نکره ده ځکه عين معرفه نه ده چه عين معرفه هغه ته وائي چه معلومه وي متکلم او مخاطب دواړوته نو دلته اګرکه متکلم ته معلومه ده نومخاطب ته خو معلومه نه ده او عين نکره ځکه نه ده چه عين نکره هغه ده چه متکلم

اومخاطب دواړو ته معلومه نه وی نو دلته اگر که نه ده معلومه مخاطب ته نو متکلم ته خو معلومه ده نو نه عین معرفه شوه او نه عین نکره شوه اوس راشه ولی مدخول د الف لام عهد ذهنی ته په قوة دنکره کنبی وائی او په قوة د معرفی کنبی نه وائی د دوه وجهونه اوله وجهه داده چه معرفت په معارفو کنبی معتبر دیٔ په نظر سره مخاطب ته ولی ځکه چی مخاطب ته فائده حاصلیږی په ذکر کولو دمعرفی سره نو دلته مخاطب ته مجهول دیٔ اگرکه متکلم ته معلوم دیٔ دوهم وجهه داده چه مدخول د الف لام عهد ذهنی کنبی دوه جهته دی یوجهة دتعریف دیٔ دوهم جهة دتنکیر دیٔ او تعریف اشرف دیٔ په نظر سره تنکیرته او دا قانون دیٔ چه نتیجه تابع داخس ارزل وی نو إخس ارزل دلته تنکیر دیٔ نو ځکه په قوة دنکری کنبی شو او نه په قوة دمعرفی کنبی نو مونږ جواب کوو چه الف لام دپاره دجنس دیٔ که ته ووائی چه الف لام جنسی شی او تاء دپاره دوحدت ده نو لازم شوه اجتماع دمتنافیینو په لفظ واحد کنبی چه کلمه ده مونږ وایو وحدت پر ځلور قسمه دیٔ منافی د اقسامو د وحدت د جنس سره وحدت فردی دیٔ نه نور اقسام نو دلته وحدت دپاره د جنسیة دیٔ نه وحدة فردی نو څه منافات رانغی ولی ځکه اتصاف او حکم د

Maktaba Tul Ishaat.com

يوپه بل سره کیږی ویل کیږی داسی هذا الواحد جنس و
هذا الجنس واحد او که منافی وائی بیا به نه ویل کیدالئ
نو معنی به دارنګه شی الکلمة جنس کلمه ئی واحده په
وحدتی جنسی سره پهاصطلاح د نحاتو کښی لفظ وضع
الخ. یا جواب کوو په اختیار دشق ثانی سره چه الف لام
استغراقی دی کـه تـه ووائـی چـه لازم شـوه اجتمـاع
دمتنافیینو نوره خبره مخکی ذکر ده مونږ وایونه لازمیږی
ولی ځکه الف لام دپاره د استغراق اوتاء دپاره د وحدت او
مراد د وحدت نه وحدتی نوعی دئ نو څه منافات نشته
ولی ځکه لکه څنګه چی په الف لام استغراقی کښی اشاره
وی جمیع افرادوته او تری اراده کیدلائی شی جمیع افردو
ته همدغه رنګه چی واحدوی په وحدت نوعی سره دهغه
څخه هم اراه کیدلائی شی جمیع افراد که ته ووائی چه څه
شاهد لری مونږ وایو لکه ته ووائی کل انسان ناطق نو
حکم دناطق چه مونږ کوو پر ټولو افرادو د انسان نه پر
بعضو افرادو نو صحت دالف لام استغراقی خو راغلئ
اوس که ته ووائی بیا خو تعریف د افرادو راغلی نو مونږ
وایو تعریف د افرادو نه راځی ولی ځکه چه لفظ وضع
الـخ. دا تعریـف د ماهیـة او د ذات دکلمـی دئ بیلـه
عوارضو چه دخول د الف لام دئ که ته ووائی چه دڅه نه

معلومه وی چه دا تعریف د کلمی دئ بیله عوارضو مونږ وایو ځکه که دا تعریف د کلمی شی سره د دخول د الف لام نو لازم به شی تحصیل د حاصل او تحصیل د حاصل باطل دئ ولی به تحصیل دحاصل راشی ځکه چه کلمه مخکی معرفه شوه په دخول د الف لام استغراقی سره ولی ځکه چه الف لام د الاتو د تعریف څخه دئ بیا چه ته په لفظ وضع الخ. سره تعریف کوی نو لازم شو تحصیل دحاصل نو معنی دارنګه شوه چه الکلمة ماهیة د کلمی چه متحقق دئ په ضمن د جمیع افرادو کښی په اصطلاح دنحاة کښی لفظ وضع الخ. یا جواب کوو په اختیار د شق ثالث سره چه الف لام عهد خارجی که ته ووائی چه الف لام عهدخارجی فردی معهود غواړی هغه نشته مونږ وایو فردمعهود شته چه کلمه ئی لغوی ده او کلمه لغویه مایتکلم به الانسان ته وائی نو دا معلومه متکلم او مخاطب دواړوته اوکه ته ووائی صحت د الف لام خو راغلئ نو بیا خو تعریف د فرد راغلئ مونږ وایو تعریف د فردهم نه راځی ولی ځکه چه لفظ وضع الخ دا تعریف دماهیة او د ذات دکلمی دئ بیله عوارضو چه دخول دالف لام دی که ته ووائی چه دخه نه معلوموی چه دا تعریف د کلمی دئے بیله عوارضو مونږ وایو ځکه که دا

Maktaba Tul Ishaat.com

تعریف د کلمی شی سره ددخول د الف لام نه لازم به شی تحصیل د حاصل او تحصیل دحاصل باطل دئ ولی به تحصیل دحاصل راشی ځکه چه کلمه مخکی معرفه شوه په دخول د الف لام عهد خارجی سره ولی ځکه الف لام دالانو د تعریف څخه دی بیا چه ته تعریف په لفظ وضع الخ. سره کوی نو لازم شو تحصیل دحاصل یا دا وایو چه لفظ وضع الخ. دا تعریف د کلمی لغوی دئ نو تعریف دماهیت راغلی په ماهیة سره که ته ووائی بیا خو سبق معهودیت دپاره د الف لام عهد خارجی نه راغلی مونږ وایو راځی ولی ځکه دکلمی لغوی دپاره دوه اعتبار دی یو اعتبار داچه کلمه لغویه فرد دمطلق کلمی دئ نو دا سبق معهود دپاره دالف لام عهد خارجی شوه دوهم اعتبارئی دادئ چه دا کلمه لغویه په نظرسره خپلو افرادوته واخلی نو په دی اعتبار سره دا بیا کلی او ماهیة ده نو په دی اعتبار سره معرفه په لفظ وضع الخ. سره شوه نو معنی دارنگه شوه فرد چه کلمه لغویه ده په اصطلاح د نحاة کښی لفظ وضع الخ. نو دا تعریف د فرد نه راغلی یا جواب کوو په اختیار د شق رابع سره چه الف لام عهد ذهنی دئ که ته ووائی بیا لازمیږی نکارة د مبتداء مونږ وایو نه لازمیږی ولی ځکه شرط په مبتداء کښی تعریف یا

تخصيص دئ نو دلته اګرکه تعريف نشته تخصيص شته ولې ځکه چه مدخول دالف لام عهد ذهني معلوم دئ متکلم ته نو دا علم د متکلم ورلره مخصص دئ او علم د متکلم د مخصصاتو معتبرو د تخصيص د مبتداء دئ که ته ووائې چه پردې څه شاهد لرې چه علم د متکلم د مخصصاتو معتبرو د تخصيص د مبتداء دئ مونږ وايوؤ ځکه چه ابن حاجب په کافيه کښې په مابعد کښې په بحث د مبتداء کښې چه مثالونه دنکيرې مخصصې بيانوې نو په نو لسمه صفحه کښې دا مثال هم ويلې دی ارجل فی الدار ام مراة نو دلته مخصص د مبتداء دپاره علم د متکلم دی.يا دا جواب کو چه دار مدار د ابتدائيت د مبتداء پر افادې دئ بيا که نکيره وی اوکه معرفه وی او دارومدار د افادې بيا پر استقلال دئ او الکلمة اسم دئ او اسم په اعتبار دخپلې معنی سره مستقل دئ نو ابتدائيت د الکلمة صحيح دئ اګرکه نکره ده کما قال عبدالرحمن جامی فی صفحه ۸۲ دواتياوقال بعض المحقيقين منهم مدار صحة الاخبار عن النکرة علی الفائدة لاعلی ماذکره او زمونږ توجيه دپاره د مشهورينو داده چه الف لام عهد ذهنی نه داخلوو پر مبتداء باندې ځکه چې مدخول دالف لام عهد ذهنی نه معرفه وی او نه

Maktaba Tul Ishaat.com

نکـره مخصـص وی ظـاهراً او شـرط دوئـی لګـولئ دئ پـه مبتداء کښې تعریف یـا تخصـیص وی او دلتـه یـوهم نشـته اوکـه تـه ووائـی بیـا خـو تعریـف دفـرد راغلئے مونـږ وایونـه راځی ولی ځکه چه لفظ وضع الخ. دا تعریف دماهیـت او د ذات دکلمی دئ بیله عوراضو چه دخول دالـف لام دئ کـه تـه و اوائی پردی څـه شـاهد لـری مونـږ وایـو ځکـه چی کلمـه معروضـه او الف لام عـارض دئ او معـروض مقـدم وی پـر عـارض بانـدی او تعریـف د معـروض هـم مقـدم وی پـر ذات دعـارض بانـدی ولـی ځکـه چـه عـار ض بـه شـی تـه حالتـه ثابتیږی چه معرفت د معروض خو یوار راشی.

تمت بعون الملک الوهاب

راقم حقیر الناس حزب الله قندهاری عفی عنه

من افادات مولوی عبدالقدوس صاحب مدظله العالی

**ضابطه نمبر ۱:** اخراج پردری قسم دئ یو اخراج دخارج او بل اخراج دمخرج دئ او بل خروج د مخرج دئ اخراج د خارج عبارة دئ له دی نه چه یو شئ په نفس الامر کښې خارج شوی وی په یوقید سره بغیر له اعتبار داخراج نه زمونږ یعنې مونږ خروج نه وی معتبر کړے او بیا وروسته مونږ اعتبار دخروج دده وکړو په بل قید سره خارج کړو نو وروسته اخراج زمونږ نه دئ مګر اخراج د خارج دئ او دا اخراج د خارج تحصیل دحاصل نه دئ ځکه چه په دی اخراج دخارج کښې حاصل خروج نفس الامر وی چه دهغه سره زمونږ اعتبارنه وی او داتحصیل دهغه خروج وی چه هغه زمونږ په اعتبار سره وی نو په دی اخراج دخارج کښې حاصل جدا شئ وی چه هغه خروج نفس الامری دئ او تحصیل جدا شئ وئ چه هغه خروج اعتباری او قصدی دئ نو هرکله چه اخراج دخارج تحصیل د حاصل نه دئ نو دا باطل هم نه دئ بلکه جائز دئ بلکې شائع او زائع دئ په تعریفاتو کښې اخراج د مخرج عبارت دئ له دی نه چه یوځل یو شئ خارج شوی وی په یو قید سره او مونږ قصد او اعتبار هم کړی وی او بیا وروسته له دینه په بل قید سره مونږ همدغه شئ خارج کړو او مونږ اعتبارو کړو دخروج ددغه شئ په دویم قید

Maktaba Tul Ishaat.com

سره نودا اخراج د مخرج تحصیل د حاصل دئ ځکه چه دحاصل هم هغه خروج دی چه په قصد او اعتبار د معتبر سره شوئ وی او تحصیل د همدغه خروج دئ چه مخکښی یوځل حاصل شوئ دئ نو حصول او تحصیل دیوشئ راځی په دی اخراج دمخرج کښی او دا باطل دئ دریم خروج دمخرج دا عبارت دی له دی نه چه یوشئ یوځل خارج کړی شی په یوقید سره او دا خروج معتبر او قصد کړی شوی وی او بیاوروسته همدغه شی په دویم قید سره بیا خارج شی خولیکن بغیر د قصد او اعتبار نه په دی خروج دمخرج کښی د اول خروج اعتباری او قصدی وی او دا دویم خروج نفس الامری وی او په دی کښی هم تحصل د حاصل نه راځی او نشته ځکه چه اول خروج اعتباری او قصدی وی او دویم خروج نفس الامری وی نو داهم باطل نه دئ بلکه جائز دی او شائع دئ په تعریفاتو کښی.

راقم [redacted] الناس حزب الله قندهاری عفی عنه

من افادات

مولوی صاحب محمد زاهد عزیز خیل مدظله العالی

زیر اهتمام میر کمال الدین حقانی

موبایل: 0300-5866001

سره نودا اخراج د مخرج تحصيل د حاصل دئ ځکه چه دحاصل هم هغه خروج دی چه په قصد او اعتبار د معتبر سره شوئ وی او تحصيل د همدغه خروج دئ چه مخکښی يوځل حاصل شوئ دئ نو حصول او تحصيل ديوشئ راځی په دی اخراج دمخرج کښی او دا باطل دئ دريم خروج دمخرج دا عبارت دی له دی نه چه يوشئ يوځل خارج کړی شی په يوقيد سره او دا خروج معتبر او قصدکړی شوی وی او بياوروسته همدغه شی په دويم قيد سره بيا خارج شی خوليکن بغير د قصد او اعتبار نه په دی خروج دمخرج کښی د اول خروج اعتباری او قصدی وی او دا دويم خروج نفس الامری وی او په دی کښی هم تحصل د حاصل نه راځی او نشته ځکه چه اول خروج اعتباری او قصدی وی او دويم خروج نفس الامری وی نو داهم باطل نه دئ بلکه جائز دی او شائع دئ په تعريفاتو کښی.

راقم حقير الناس حزب الله قندهاری عفی عنه

من افادات

مولوی صاحب محمد زاهد عزيز خيل مدظله العالي

زير اهتمام مبر كمال الدين حقانی

موبايل: 0300-5866001

Maktaba Tul Ishaat.com



سراج البلاغة
آسان طب
انوار العلوم
في حل
معلقات سلم العلوم
بدر الدجى
في حل
مشكلات حمد الله